ترجمه : سيد غلام فاروق "وحدتيار"

قرآن حكيم تمام بني آدم رادرانسانيت مساوي وبرابر قرارداده مي فرمايد :

"ياايهاالناس اناخلقتكم من ذكر وانثي وجعلنكم شعوبا وقبايل لتعارفوا ان اكرمكم عندالله اتقكم . (الحجرات ١٣)

ترجمه : اي مردم شماراازيك مرد وزن خلق كردم و به اقوام و قبايل تقسيم نموديم تايكديگر رابشناسيد محققاً كه بهترين شما نزد خداوند متقي ترين شمااست.

همين حقيقت راپيامبر اسلام هنگام حجة الوداع به الفاظ ذيل ادا نموده براي انسانيت توضيح فرمود:

نه عرب رابرعجم برتري وفضيلت است،نه عجم رابرعرب ،نه سفيد رابرسياه برتري است ونه سياه رابرسفيد مگربنابرتقوي وپرهيزگاري، شما همه اولاد آدم هستيد وآدم ازخاك پيداشد.

(بخاري ومسلم)

بنابرهمين دساتيرگران بهاي اسلام دريك دولت اسلامي تمام اتباع آن ازنظر قانون حيثيت مساوي دارند ، درزندگي اجتماعي هم درميان آنها جز تقوي معيار ديگرفضيلت وبرتري وجودندارد.

اسلام تمام بني آدم رابراساس انسانيت با هم برادروبرابر قرارداد، وتمام مسلمانان رابر اساس ايمان وعقيده برادر يكديگر خوانده درميان آنهامساوات وبرابري كامل استوارنمود.

چنانچه قرآن مجيد مي فرمايد : "انماالمومنون اخوة " تمام مسلمانان با هم برادراند.

پيامبر عليه السلام نه تنها مسلمانان بلكه همه انسان ها را با هم برادر قرار ميدهد، آنجا كه مي فرمايد : من گواهي ميدهم كه همه انسان ها با هم برادر اند .

(ابوداود)

درعهد نبوي ،خلافت راشده وادواربعدي مثال هاي زيادي سراغ مي شود دال براينكه عدالت اسلامي با آقاوغلام حاكم ومحكوم ، مالداروغريب حتي درميان مسلمان وكافر اصول مساوات رايكسان مراعات نموده است.

پيامبر عليه السلام درحقوق ومعاملات هميشه خودرا باديگران برابر قرارداده است، چنانچه يك زن قريشي بنام فاطمه مرتكب دزدي گرديد ،حضرت اسامه رضي الله عنه سفارش كرد تا به او جزا داده نشود ، پيامبر عليه السلام بانهايت سختي فرمود: اي اسامه باسفارش خويش درحدود مقرره خداوندي مداخله مي كنيد آگاه باش كه درآينده مرتكب چنين غلطي نشوي ، سپس حضرت بلال رضي الله عنه رادستورداد كه مردمرا درمسجد جمع كند ، چون مسلمانان جمع شدند ،پيامبرعليه السلام به آنها خطاب نموده فرمود : امت هاييكه قبل ازشماگذشته اند بخاطري هلاك شدند كه افراد ضعيف وناتوان رامطابق قانون سزاميدادند ،امامردم توانگر وقوي را بدون سزارهامي كردند ، مراقسم است بذاتيكه نفس من بدست اوست اگر فاطمه بنت محمد (ص)هم دزدي كند دست اورااقطع خواهم كرد . (بخاري ومسلم)

قرآن حكيم به مسلمانان دستورميدهد :

«ياايها الذين آمنواكونوا قوامين لله شهداء بالقسط ولايجرمكم شنان قوم علي الاتعدلوا اعدلوا هواقرب للتقوي واتقواالله ان الله خبير بماتعملون (المايده ٥- ٨)

ترجمه : اي مومنان بخاطر خدا براستي وصداقت استوارباشيد وبه انصاف گواهي دهيد ،دشمني گروهي شما راوادارنكند كه از عدل وانصاف عدول كنيد ، عدالت كنيد كه به خداترسي بيشتر مناسبت وارد ،ازخدا بترسيد،بدون شك اوازهمه اعمال شما خبر دارد.

پيامبر عليه السلام با وجود اينكه بركسي ظلم وتجاوز نمي كرد وراجع به حقوق ديگران نهايت محتاط بود لاكن

ص(٤)

تاسیس کتابخانه واهداف تربیوي آن

حافظ علي محمد (حنیف)

گرچه تحدیدتاریخ تاسیس نخستین کتابخانه وتعیین مکان آن درعصورقدیم مشکل مي باشدباآنهم حفریات اخیردربین نهرهاي عراق ونیل نشان میدهدکه شاید اولین کتابخانه درهمین مناطق بوده باشد. درکاوش هائیکه هیئت امریکائي دراین اواخردروادي فرات نموده درحدودسي هزارخشت پخته رایافت کرده که درآنهابه خط مسماري اموراداري ،فني وادبي تحریرشده وهمچنان قدیمترین کتاب خانه دروادي نیل نیزگزارش شده که بنام هاي :(اوسیمندیاس ، حوتپ ، خوفروخضرع) یادمي گردد. کتاب خانه هاي الرها، القدس ، الاسکندریه نیز شهرت قدیمي وسابقه تاریخي دارند .

امااینکه کتابخانه درتاریخ اسلام چه وقت تاسیس یافته بایدگفت که تاسیس کتاب خانه هاموازي به تاسیس مساجد مي خودش کتابت شده بود، چنانچه مصحف اویه همگان مشهوراست .

اسماء بنت عمیس متوفي ۲۸ هجري مجموعه يي ازاحادیث رادرکتاب خودجمع کرده بود. به همین ترتیب میتوان ازصحیفه هاي امیرالمومنین علي بن ابي طالب رضي الله عنه متوفي ٤٠ هجري نام برد . کتاب هاي ابوهریرة رضي الله عنه متوفي ٥٩ هجري، کتاب هاي عبدالله بن عمروبن العاص متوفي ٦٥ هجري ، کتاب هاي عبدالله بن عباس رضي الله عنهما متوفي ٦٨ هجري ، کتاب هاي عبدالله بن عمررضي الله عنهما متوفي ۷۳ هجري ... وغیره نام برد. این همه کساني بودندکه به جمع کتب وکتاب خانه علاقه خاصي داشتند .

تعداد کتاب خانه هادراواخرقرن دوم هجري خیلي زیاد گردیدو امراء وخلفاء به آن توجه خاص نمودند ودرقسمت مایحتاج کتا بخانه ها وتهیه کتب ازهیچ نوع سعي وکوشش دریغ نمي ورزیدند. تاآنکه درشرق وغرب تحت قلمرواسلام تاسیس کتاب خانه ها رونق گرفت وکتب بسي نفیس رادرآن جمع نمودند.درآن ایام صرف درکتاب خانه قرطبه چارصدهزارجلدکتاب درعلوم مختلف جمع آوري و زخیره شده بود .

چون کتاب خانه دربناء افراد صالح جامعه وتربیه درست آنها رول بسزاداردلذا اهداف آنرامیتوان بصورت فشرده ذیلاً تشریح نمود :

۱ - هدف کتاب خانه درمراحل ابتدائي ،متوسطه وثانوي ، درمدارس ولیسه ها همانانشجیع شاگردان به مطالعه میباشد تاشاگردان خودرا به قرائت وخواندن کتب عادت دهند وبعدازفراغت به کتاب خانه مراجعه نموده ازضیاع اوقات شان جلوگیري بعمل آید .

دردوره هاي تحصیلات عالي هدف کتاب خانه اینست که محصل عادتي راکه دردوران قبلي درمورد مطالعه کسب نموده آنرارشدوتکمیل کرده به پختگي برساند .

۲- هدف دوم کتاب خانه اینست که اذهان شاگردان درکسب معرفت وتعلم علم نموکرده، حس اعتمادبه نفس، توانائي تدریجي درتحریر وتالیف واخذ معلومات درست ازمصادرومراجع مطبوع و مخطوط وسایروسایل سمعي وبصري را درخود ایجاد کندودرتمام موضوعات صرف به تدریس مدرس اکتفا نه نموده به مرحله استقلال درابحاث وتالیفات برسد.

۳- یگانه مرجعي که شاگردومحصل باشد. زیرا مساجد صرف براي عبادت خاص نبوده بلکه مرکزحیات اجتماعي ،سیاسي ومرکزادارات دولتي نیز بوده است . حلقات درسي تفسیر،قرائت قرآن کریم ،حدیث وغیره همه درمسجد ،انجام مي گرفت وهمین سبب بودکه رسول الله صلي الله علیه وسلم بعدازهجرت اولین کاري را که انجام دادند بناء مسجد قباوبعدازآن اعمارمسجدنبوي صلي الله علیه وسلم مي باشد. ازآن به بعدسلسله . اعمار مساجددرمدینه منوره وسایر بلاداسلامي یکي بي دیگري صورت گرفت. این مساجد حیثیت مدارس را درصدراسلام بخود گرفتند، بهمین سبب مصاحف ،تفاسیرصحابه وصحیفه هاي احادیث دراین مساجد بکثرت جمع گردیده وازآنهااستفاده مي گردید . ازآنچه گفته شدمیتوانیم نتیجه گرفت که اولین کتاب خانه دراسلام منزل وبیت رسول الله صلي الله علیه وسلم مي باشد . چون آنچه راکتاب وحي تدوین مي نمودند ،درمنزل رسول الله صلي الله علیه وسلم آرامي گذاشتند. هنگامیکه درزمان ابوبکرصدیق رضي الله عنه قرآن مجید توسط زید بن ثابت رضي الله تعالي عنه یکي از کبارکتاب وحي ازسطوروصدورصحابه رضي الله عنهم جمع گردید، به منزل خلیفه اول مسلمین گذاشته شدوازآن به بعدرنزد سیدناعمر رضي الله عنه وبعدازشهادت وي به نزد ام المومنین حفصه رضي الله تعالي عنهارسید، بالآخره درزمان خلافت سیدناعثمان رضي الله عنه زمانیکه جمع قرآن صورت میگرفت ، مصحف موصوف را ازنزد حفصه رضي الله تعالي عنها عاریت گرفته بعدازاستفاده ازآن تحت نظرهیئت مؤظف ازجانب خلیفه مصاحف دیگري ازآن نسخه گردیده به اقطارواکناف عالم اسلامي ارسال گردید، البته تفصیل جمع قرآن کریم درکتب علوم القرآن مذکوراست . بالآخره مصحفي راکه عاریت گرفته بودند به حفصه رضي الله عنها دوباره بازگرداندند .

ازجانب دیگربرخي ازصحابه وتابعین درخانه هاي شان کتاب هاراجمع نموده که میتوان آنرابه منزله کتاب خانه هاي خصوصي محسوب نمود. بطورمثال درنزدسعدبن عبادة الانصاري متوفي ۱۵ هجري کتاب هایي بود که درآن طائفه يي احادیث پیغمبرخداصلي الله علیه وسلم راجمع کرده بودند ونزدعبدالله بن مسعود رضي الله عنه صحیفه هایي بودکه به خط یوسیله آن ازتشریح ومحاضره استادبوضع بهتراستفاده کند،همانا کتاب خانه است که بعدازتشریح استاد، شاگردبه کتاب خانه رجوع نموده ، درمورد درس تشریح شده ازکتب مختلف معلومات بیشتري کسب نماید .

٤- کتاب خانه دربناء افراد صالح وعلماي باعمل ، براي امت اسلامي رول مؤثرواولي دارد .

٥- کتاب خانه میتواند باحث ومؤلف رادرتمام موضوعات عملي ونظري درجریان بحث وتحقیق کمك نموده فایق وفایزش سازد

په اسلامي ټولنه کي خلافت اوامارت

دوهمه برخه : ابواحسان الله

دغه مبارك ایت به همیشه دمصیبتونو په اوریدو سره سعید وېلي اوس پرېښېده چي ګواکي کوم مصیبت په سعید باندي راغلي اویا کومه لویه پیښه دمسلمانانو په منځ کښي منځ ته راغلي .

دسعید ماندیني چي دغه مبارك آیت دسعید له خولي واورید دسعید نه يې ژر وپوښتل چي څه پیښه شوي ایا امیر المومنین وفات شوي؟

سعید خپلي ماندیني ته په ځواب کښي وویل نه ستره پیښه منځ ته راغلي .

دسعید ماندیني بیا تري پوښتنه وکړه چي داسلام لښکریان دماتي سره مخامخ شوي؟

سعید وویل دهغي نه هم ستره پیښه منځ ته راغلي ماندیني بیا تري وپوښتل چي حال وایه څه غټه پیښه شوي چي تردي هم ستره ده ؟

سعید دخپلي ماندیني په ځواب کښي وویل چي دامیر المومنین حضرت عمر (رض) ځواماته پیسي رالیږل شوي اوغواري چي زما آخرت پري وران کړي اوزما په کورکښي فتنه واچوي ؟

ماندینه يې چي له واقعیت نه خبره نه وه سعید ته يې وویل چي ځان دهغو (پیسو) له شره خلاص کړه .

سعید خپلي ماندیني ته مخ واړاوه اوورته يې وویل چي یدي کارکښي له ماسره مرسته کوي ؟

ماندیني وویل ولي نه زه درسره مرستیا له یم .

سعید دخپلي ماندیني په مرسته هغه پیسي چي حضرت عمر (رض) ورته رااستولي وي په بیلو بیلو کڅوروکښي واچولي اوهغه يې دسیمي په فقیرانو اوبیوزلو کسانو ووېشلي .

څه موده وروسته په خپله حضرت عمر (رض) دحمص دسیمي دخلکو دنیمګړتیاو اودخلکوحال اواحوال دلیدو لپاره دحمص ولایت ته سفر وکړ .

دحمص ولایت هغه وخت د(کویفه) یاکوفي په نامه یادیده .

ځنګه چي دحمص دسیمي خلکو لکه دکوفي دسیمي دخلکوپه شان تل له خپلوامیرانو نه ناالبت اوشکایت کاؤ ځکه تشبیهاً دسیمي نوم يې دحمص په نامه واړواوه .

امیرالمؤمنین حضرت عمر(رض) دحمص ولایت ته ورسیدو اوله څه تم کیدو وروسته دسیمي له خلکو سره يې له نژدي څخه ولیدل او ددوي دامیردکار دځرنګوالي اوارتیاواونیمګړتیا پوښتنه يې وکړه .

دحمص دسیمي خلکوچي ددوي دامیرانو نه شکایت عادت ؤ سمدستي يې په څلوروماده وکښي له سعید نه حضرت عمر(رض) ته خپل شکایات وړاندي کړل چي هریوبي دبل نه ستر شکایت ګڼل کیده .

حضرت عمر (رض) دپیښي دخبرلو په اړوند پخپله داسي روایت کوي:

یوه لویه ټولنه دپوښتني اوځواب لپاره جوړه شوه چي پدي غونډه کښي دحمص امیر(سعید) اودسیمي ګڼ شمیر خلك راټول شوي اوناست وو.

که څه هم زه داوه وم چي هغه باورچي ما په سعید درلود دلوي اوقدیر خداي (ج) په برکت به زما نظر دسعید نه وانه وړي هغه و چي ما دخلکو نه دسعید نه دشکایت کولو په اړوند پداسي حال کښي چي پخپله سعید هم ناست و وپوښتل چي تاسو دخپل امیر (سعید) نه څه شکایت لري ؟

دحمص دسیمي خلکو داسي ځواب ورایه چي دورځي په لمړي شیبوکښي سعید (دحمص امیر) خپلي وظیفي ته نه حاضریږي .

حضرت عمر (رض) دمسلمانانو خلیفه خپل مخ سعید ته وګرځوو او وي ویل چي دخلکودلمړي پوښتني ځواب ورایه :

سعید دحمص امیر له لږڅه ځنډ اوسوچ نه وروسته دلمړي پوښتني په ځواب کي داسي وویل :

په خداي (ج) سوګند چي ما نه غوښتل او نه مي خوښیده چي ددغي پوښتني ځواب ددغي غونډي په مخ کي مطرح شي خواوس چاره نلرم باید حقیقت ووایم چي خدمتګاره نلرم له دي کبله سهار وختي (اوړه) لمدوم اوڅه وخت مي دهغه په خمیره کیدو اودوډوي په پخیدو کي تیریږي وروسته له هغه اودس کوم اودوظیفي لپاره حاضریږم .

دمسلمانانو خلیفه بیاخلکو ته مخ واړاو چي بل څه شکایت دخپل امیرنه لري ؟

دحمص خلکویه ځواب کښي وویل چي هو !

زمونږامیردشپي لخوا څوك خپل ځانته نه پریږدي اوزمونږمشکلات نه اوري اوڅوك خپل حضورته په کورکښي نه مني .

حضرت عمر (رض) بیا خپل مخ سعید ته اړوي اووایي چي ددي پوښتني ځواب بایدتاسو ووایاست.

سعید بیا ددي پوښتني اوشکایت په ځواب کښي وایي :

که څه هم په ځرګنده اوښکاره توګه ددي واقعیت ویل مي بده نه لیده خواوس بایدځمي دسیمي دخلکوددغه اعتراض ځواب ووایم اوهغه داچي ورځ مي دخلکو دخدمت لپاره ټاکلي اودشپي لخوا دپاك پروردګاردعبادت اواطاعت لپاره .

خلیفه بیا هم دحمص خلك مخاطب کوي اووي ویل که دخپل امیرنه بل کوم شکایت هم لري ووایاست.

دحمص خلکو بیا هم وویل چي زمونږ امیرپه میاشت کښي یوه ورځ له خپل کوره بهرته نه راوځي !

حضرت عمر(رض) سعیدته وویل چي څه ځواب لري ووایه :

سعید وویل ځنګه چي ماسخکي هم وویل چي په کورکښي ویټزه (خدمتګاره) نلرم اوهم ددغي یوي جوړي جامي نه په غیر چي تاسو زما په تن کښي ویني نوري جامي نلرم .

په هره میاشت کښي یوه ورځ خپلي جامي مینځم چي دوچیدوته وروسته هغه اغوندم دورځي په وروستي شیبو کښي دخلکو خدمت ته حاضریږم .

دمسلمانانو خلیفه بیا هم دحمص له خلکو نه پوښتنه کوي چي بل کوم شکایت هم لري ترڅوستاسو امیردهغه ځواب ووایي ؟؟

دحمص خلکو وویل هوا

زمونږامیردخبرویه وخت کښي کله ناکله بي هوشه شي سعید ددي شکایت په اړوند دمسلمانانو خلیفه حضرت عمر (رض) ته وایي :

کله چي زه مشرك ؤم په هغه ورځ چي دعدي زوي خبیب دقریشودمشرکینو لخوایه داروځړول شو اوهغه يې په شهادت ورساو هغه ساعت مي چي په زړه شي بيهوشي راباندي راشي ،ځکه چي دخبیب دشهادت په ورځ چي دمشرکینو لخوایه دارځړول شوي ؤ دده دبدن هرغړي يې بیل بیل غوڅاو اودبدن دټولو برخونه به يې ويني څڅیدي .

پدي وخت کښي مشرکینو دخبیب نه پوښتنه وکړه چي که غواړي ستا په ځاي حضرت محمد رسول الله (ص) وي اوتا خوشي کړوچي خپل کورتي ته لاړشي څه وایې ؟

خبیب پداسي حال کښي چي ويني يې دبدن دهرغوڅ شوي غړي څخه بهیدلې وي ویل ،

په خداي سوګند یادوم چي راضي نه یم چي دحضرت محمد (ص) په مبارکه پښه اغزي هم لاړشي که څه هم هغه ساعت زه خپلي کورتي ته خوشي اولاړشم .

سعید وویل قسم په خداي (ج) چي هغه ویرجنه پیښه راپه زړه شي چي ولي ما ونشوکولي خبیب سره دمرګ نه دژغورلو مرسته وکړم اوځانه‌ګړه اندیښمن یم چي آیا خداي (ج) به ماوبخښي ؟ نوځکه دکاریه وخت بابل هروخت کښي چي داساعت راپه زړه شي بي هوښه شم .

حضرت عمر (رض) دخبرویه پاي کښي دپاك خداي (ج) نه شکروکړ چي له پخوا نه مي کوم اعتماد اوباور په سعید درلود پر هغي يې باوره نه شوم .

وروسته يې بیا یوزردیناره په یوه کڅوره کښي واچول اوسعید ته يې واستولي .

دسعید ماندیني دپیسودکڅوري په لیدو سره دخداي (ج) شکرانه په ځاي کړه چي سعید خپل دکار له برکته دپیسوخاونده شولراوله سعید څخه يې وغوښتل چي په دغوپیسو باندي دکوردارتیاوو شیان وپیري .

سعید چي په هیڅ دول دیته راضي نه ؤ چي دمسلمانانو دبیت المال په پیسو دکوردارتیا ورشیان وپیري نوميي ماندیني ته يې وغوښتل چي ستاپه خوښه به ښه نه وي چي دغه پیسي په مناسبي اوغوره لاره کي خرڅي کړو.

دسعید ماندیني وویل چي هغه به کومه غوره اوښه لاره وي ؟ سعید دخپلي ماندیني په ځواب کښي وویل چي داپیسي هغه چا ته ورکوو چي دهغه څوا مونږ ته راورسیدلي اومونږ دهغه حضورته ډیر احتیاج یو.

ماندیني وویل چي هغه به څوك وي .

سعید وویل خداي (ج) ته به حسنه پور ورکړو.

دسعید ماندیني وویل داخودېر غوره اوښه کاردي [illegible] بدل کښي غوره او ارزښتنا نه پیسه درلري .

هوا سعید دخپلي ماندیني په مرسته هغه پیسي چي حضرت عمر(رض) ده ته رالیږلي وي په بیلو بیلو کڅوروکښي واچولي اوخپل یوزوي ته يې ورکړي اولارښوونه يې ورته وکړه چي دغه کڅوړه به دفلاني یتیمانو ته اودغه کڅوړه به فلاني کونډي ته او داکڅوړه به دفلاني کورني مساکینو ته اودابله به يې فلاني کورني معیوبینو ته ووېشي .

داؤ داسلام دلاري قهرمانان اوریښتیني زړه سواندي امیران اوداسلامي خلافت غوره نموني چي په پورته ډول يې یادونه وشوه .

دافغانستان فعلي وضعي نه یواځي ...

خوورځي وړاندي په پیښورکي دشهادت خبریال درفاه عامه افغان داداري له مسئول محترم ورور انجنیر سید رحیم "ستار" سره دتوموري اداري دتاسیس اوفعالیتونو په باب مرکه کړي .

وروانجنیر سید رحیم "ستار" ددي اداري دتاسیس او ساحوي فعالیتونو په باب وویل دا اداره دخپل تاسیس دلومړیو ورځو څخه په خیریه کارونو بوخته ده ترکومه وخته چي وحشي روسانو زمونږ په هیوادکي مستقیمه مداخله درلوده دااداره په پاکستان کي دافغان مهاجرینو دستونزو دحل په منظورله ټولو اسلامي خیریه موسسو سره په تماس کي وه اویدي اړوند يې زیات خدمتونه کړي دي اوهم يې دافغانستان په داخل کي دټول افغانستان په سطحه دالبسي اوخوراکي موادو دبرابرولواو بشپړولو په برخه کي دېرکارکړي دي وروورسید رحیم وویل ؛

کله چي روسي برغلګرودمجاهدینو دنه ستړي کیدونکو مجاهدتونو په نتیجه کي ماته وخوړه اوله افغانستان څخه وشړل شول دي اداري خپل پلان دافغانستان دبیا آبادي په باره کي چي په هغه کي دکرنې؛ اوبولګولو، ساختماني چارو اوورته نوري پروګرامونه شامل دي طرح اود تمویل کوونکو ادارو سره په تماس کي شو. چي لله الحمد دهغه ورځي څخه تراوسه پوري دي اداري دننګرهار - لغمان ،کابل ،لوګر، وردګو،پکتیا - اوغزني په ولایاتوکي ٦٥ پروژي په مختلفو ځانګو کي تطبیق کړیدي او هم يې دخیریه عملیاتو په سرته رسولوکي فعاله ونډه اخستي ده .

محترم وروور انجنیر صاحب سید رحیم "ستار" ددي پوښتني په ځواب کي چي دافغانستان دبیاودانولو په چاروکي څومره خیریه اداري بوختي دي اوددي ادارو دتشکیل معیارونه څه دي وویل :

تقریباً د (۲٥٠) په حدودکي غیرحکومتي موسسي کارکوي چي ددوه سره په خوااوشاکي دمختلفو اورګانوسره راجستر اوهم دراجستر کولو په پروسه کي دي ددي ادارو دتشکیل معیارونه دادي چي باید غیر دولتي ، غیر انتفاعي اوغیرسیاسي وي اوله ځانه سره مقدس اهداف ولري چي بیله کوم تبعیض څخه دافغانستان دبیا ودانولو په کارونو کي برخه واخلي اوټول دفتري دمسلکي اوباکفایته افرادو لرونکي وي.

ورور "ستار" ددي پوښتني په ځواب کي چي تر اوسه پوري تر کومه حده دامعیارونه په نظرکي نیول شوي وویل پدي کي شك نشته چي یوشمیر موسسو (N.G.O) ګاني دډیرو باکفایته اومخلصو اشخاصو پواسطه خپل کارونه پرمخ بیایي اوسربیره پر دي چي دخپل وطن دبیاجوړولو سره مینه لري اویه پوره اخلاص کارکوي دخپل اسلامي اوملي غروویه نظرکي نیولو سره دخپل ملك حیثیت اووقار څخه دخپل دفتر دمرګ او ژوند په قیمت هم دفاع کوي.

ده وویل په تاسف سره باید ووایم چي په موجوده شرایطو کي ځیني دفترونه حتي له دي کارڅخه عاجز دي چي اقلاً ددفتردچلولو بودجه پیداکړي ولي بیا زیات شمیر دغسي دفترونه شته چي اصلاً نه دفتر لري اونه نقراونه دهغه په رابطه معیار دبحث وړ دي او نه کوم پلان څه ولي بودجه لري - پروژه لري له کوم لوري جکلي موټر په خدمت کي ورکړشوي چي داټولولپاره یو ډول مصیبت دي اوددي مصیبت مخه به هله نیول کیږي چي په افغانستان کي مرکزي حکومت جوړشي .

ورور انجنیر صاحب زیاته کړه داچي زمونږ په ملك کي په سیاسي اوملي ډول معیارونه په نظرکي تدي نیول شوي نو داحتمي ده چي دهغي اثر پدي اداروباندي هم پریوتي .

ده ددي پوښتني په ځواب کي چي ستاسو داداري فعالیتونه اوس په کومو ولایتونوکي روان دي وویل اوس موږ دلغمان په ولایت کي دمیوه لرونکو ونو میوو ونو یوه قوریه لرواوهمداډول دلغمان په مرکز کي دغنمو، شولو،لوبیا اومیوو دتخم دتکثر پروژي لرو.اودننګرهارولایت دحصارك ولسوالي دزراعتي ځمکودبیاکښت کولو لپاره مودکانالونو دپاکولو پروژه جوړه کړي. دپکتیا ولایت دباك په ولسوالي کي د (۲٥٠) مترو په اوږدوالي یوسیفن لروچي دتکمیل په حال کي دي اوهمداراز دپکتیا ولایت په علي شیروکي دسیلابونو په مقابل کي دحمایوي دیوالونو یوه پروژه لرواود عاجلو مرستو ترنامه لاندي دکابل جنوب اوجنوب ختیزو سیمو ته دموادو داکمال اوتوزیع په پروګرام کي هم فعاله ونډه لرو.

ده ددي پوښتني په ځواب کي چي په وطن کي موجوده انارشیزم اوبي امني دافغانستان دبیا ودانولو په چاروڅه اثر اچولي دي وویل :

تاسو پوهیږي چي جوړول اورنګول دوي متضادي اصطلاح ګاني دي چي دهمل په لحاظ یو له بل سره سل په سلوکي په مختلف جهت کي ولاړي دي - بیا ودانول دجوړولو کاردي ولي بي قانوني - بي حکومتي بي نظمي - بي امني چور اوچپاول دړنګولو اوبربادي کاردي چي پدي صورت کي موجوده وضعي نه یوازي داچي دبیاودانولو چاري يې سل په سلو متاثره کړي دي بلکه افغانان يې دډیوالو په ذهن کي په پوره توګه وتړکول . په موجوده شرایطو کي په یوه سیمه کي دیوي پروژي دتطبیق کارڅه آسانه خبره نه ده دموادواکمال اوپټرول دپروژي ساحي ته دپاتکو دمسئولینو اولاره نیوونکو څخه هرځل سري دي ته هڅوي چي باید نورکارونه کړي اوتوبه وباسي ، ولي چاره څه ده بله داسي یوه مرحله هم پاتي ده چي په راتلونکي کي دچارو مسئولین څیر اړ کړي. وطن دومره رنګ دي چي یواځي دعام المنفعه موسساتو جوړول اوفعالول به دچا په توان کي نه وي مظلوم ملت خو پریږده چي دړنګوکوروتو دروازي کړکي دستك دملي خاتنانو دغلاشوومالونو په مارکیټونو کي دسونګ دموادو په قیمت خرڅیږي .

مساوات و ...

درباب نفاذ این حکم پروردګاردرمیان مسلمانان بحدي اندیشه داشت که به مردم باربارمي فرمود ، اګر برکسي ظلم وتعدي صورت ګرفته باشد همین اکنون ازمن انتقام بکشد.

همین اسوهٔ پیامبر علیه السلام بودکه بر اساس آن حضرت عمررضي الله عنه بجواب اعتراض عمروبن العاص والي مصر که مي ګفت اګروالي هم کسي را جزا دهد از اوانتقام خواهید ګرفت ،فرمود : مراقسم است بذاتیکه جان من دراختیاراوست که من از چنین شخص هم انتقام مي ګیرم ،زیرامن پیامبر علیه السلام رادیده ام که ذات مبارکش رابخاطر قصاص پیش نموده است.

چنانچه عمر رضي الله عنه درعهد خلافتش به این مساوات وبرابري به شدت کاربند بوده زمانیکه جبله بن ایهم غساني یك دهاتي راسیلي زد وبخاطر خلاصي ازقصاص دلیل آورد که چطور شده مي تواند اودهاتي است و من پادشاه دربدل اوقصاص شوم ،عمر رضي الله فرمود : اسلام شما هردورابا هم برادر خوانده است ،شما صرف به تقوي وپاکیزګي ازهم تفاوت دارید وبس .

عمر رضي الله عنه برابوموسي اشعري، عمروبن العاص ،پسراو عبدالله ،عبدالله بن قرط والي حمص ، قدامه بن مظعون والي بحرین وپربسرش فرمان محاکمه وقصاص صادرنموده چنان مثال هاي ازمساوات وبرابري در برابر قانون قایم کردکه نظیر آن درتاریخ کم سراغ مي ګردد.

به همین ترتیب حاضرشدن عمررضي الله عنه درمحکمه زیدبن ثابت رضي اله عنه بحیث مدعاعلیه ،برابرمدعي یعني ابي بن کعب نشستن وراضي شدن به قسم خوردن چون ګواه نداشت وقهرشدن بالاي حضرت زید بنابر احترامش او را وبه حضرت زید ګفتش که تازماني که حضرت عمرویك

ص (۷)

داسلام اومسلمانانو پرخلاف دکفري نړي توطئي

عاطفي

دنړي په ګوټ ګوټ کي دمسلمانانو وران ویجاړحالت ددي ګواهي ورکوي چي امت دجهاد لاره پریښي که نه نودګوتوپه شمارمخلصواوریښتینو مسلمانانودجهاد په ولولو له باطل سره معرکوکي وکولاي شول چي دلوي نه لوي دښمن مات کړي اوتل ئي دیوفاتح قوت په توګه سرلوړي ژوندتیرکړي خو کله يې چي دالله جل جلاله دبندګي په نسبت ځان اغیاروته تطمیع کړي بیانونه هغه برم وربانه شوي اونه هغه هسکه شمله ،که څه هم اوس الحمدالله دامت په اصیل قشرکي دجهاد حق اوصداقت جذبه په بشپړتوګه ویښه شوي خوافسوس چي داسلامي هیوادونومشران ددي پرځاي چي داسلام داصیل قشراومتوریتوملاتړ وکړي داغیاروپه لمسون يې ددځان له پاره خطربولي .

داسلامي هیوادونومشران ددي پرځاي چي دامت وران ویجاړ حالت اوپردوي دهري کفري نړي له خوا دتیري مخنیوي وکړي ،دیوځوورځواقتداریه خاطر شپه اوورځ اغیاروته دامید سترګي نیسي .

داسلامي هیوادونو ټش په نامه مشرانوکي ددي اهلیت اوجوهرنه لیدل کیږي چي امت سره راټول اودیوي متحدي اوموثري اداري ترشا خپل موجودیت په موثره توګه ثابت کړي . که کوم مشر په دي هکله دمثبت اقدام اراده ځرګنده کړي دکفري نړي باراو متعصب مشران په داسي ډول مسلمانان له هغه مشرنه بي برخي کړي چي دهغوي دفریب اودوکي په هکله په ربنتیا تصورهم نشي کولاي .

دکفري نړي جابرزمامداران دخپل حکمر وایي دبقااوځواکمن کیدویه خاطریوه لحظه هم ددینه ، نه غافله کیږي چي داسلامي امت زمامداران اوداسلامي امت اصیل قشریه هکله اوددوي دکرو دړو په باب معلومات ترلاسه نه کړي اودخپلو ږورو استعماري څېرنولاندي ونه نیسي . داځکه چي دوي خپل حاکمیت اوژونددااسلامي امت په نفاق اوځان ځاني کي ګوري دکفري نړي مسئولین پردي سنه پوهیږي چي که په مسلمانانو کي دویش تابه حس راژوندي شونوله هماغي ورځي به ددوي دزوال امکانات پخپله برابرشي په همدي خاطرتوله کفري نړي که په خپلوکي سختي دښمن هم لري خودمسلمانانو په مقابل کي یودبل تائید اوملاتړ ، مالي اوبشري مرستي به هرنورم اوفورم چي وي په پټه اوښکاره توګه ئي رسوي.خوله بلي خوااسلامي هیوادونودولتي مشران په دي فکر کي نه دي چي پراسلامي امت ددنیا په ګوټ ګوټ کي څه تیریږي اوله کوموکړاووتوسره مخ دي همداراز داسلامي کنفرانس په اړوند نه دکومي مهمي اوحیاتي مسئلي دحل په باب دعملي پریکړو اوهم دنړیوال کفري طاقتونو دستور اوګټوپه خلاف دمقابلي اوحتي دزړه له کومي دربښتیني همدردي امیدکیداي نشي .

دکفري نړي سیاست پوهان داسلامي هیوادونوحکمرانانوته ددرواغویاوروکوي اوبردي ئي اغفالوي چي ددوي حاکمیت ته به ترهغي ضرورنه رسیږي ترکومي چي ددوي دګټوپه خاطرد جوړشوي نړیوالنظام څخه تائید اوملاتړوکړي .

حتي واکداران خوددوي دفریب اوروبي په لوموکي داسي ونښلي چي نه ورته دملت ګټي په نظرراځي اونه دامت .کفري نړي دمسلمانانو دیووالي اویه دوي کي دجهادي حس دراژوندي کیدو په باب سخته اندیښنه لري په همدي غرض تل کوښښ کوي چي داسلامي هیوادونوترمینځ دنفاق اودویني توبیدني لویه جاري وساتي له یوي خواسلامي هیوادونه سره جنګوي له بلي خوا حکمرانانوته ددي درس ورکوي چي داصیلومسلمانانو لخوا ددوي اقتدارته خطرمتوجه دي اودي ته ئي اړکوي چي دخپل مسلمان ملت دتباهۍ سامان پخپله برابرکړي.

[illegible]

هرچاته په هرځاي کي چي دمسلمانانو پرخلاف څه ډول عمل کولاي شي دااوهرډول مرستي ورکوي چي ددي ژوندي مثال دهندوانودافراطي ډلي (جنتاپارتي مشر) (سبرامینم شوامي) په قول چي ده په ډیري سادګي دااعتراف [illegible]

اودټولینزو وژنوڅخه يي ډډه نه کوي بلکه دهندوانودټیټي طبقي خلك هم ددوي دضررونواوتیریو څخه په امان نه دي داهغه پوښتني دي چي که دهرسلیم عقل اوفکرخاوند وریباندي لږ غوروکړي توجوب ئي ورته داګیزه کیږي چي [illegible]

میزان جنایات ...

[illegible]

بمناسبت یوم عاشورا

هنگامهٔ ماتم

فارغي

بازاینچه فغان ونوحه برپاست
کاوازه غم به کهکشان خاست
بازاینچه بلاي آسماني
بارنده زاوج آسمانهاست
این زخم کهن چه گلفشان شد
این فتنه تازه ازکجاخاست
هرسینه دران دلیست مجروح
هردیده که دیده ام چودریاست
ماتمکده ایست دهردرچشم
کزناصیه اش غم آشکاراست
آهي زده چرخ وآسمان شد
داغي شده خون زمین بپاراست
ني کره ارض وني سمائیست
اینهاهمه درد وداغ گویاست
بسیارچه لازم است گفتن
کم نیست که دل ازین الم کاست
بایدکه به غم صبورباشیم
زیراکه رضاي حق تعالي است
آخرزچه روي چهره هارا
آثارغم ازجبین هویداست
این ناله دردناك ازکیست ؟
این نایره غم ازکجاخاست ؟
این شعله نگشت هیچ خاموش
هرروز برنگ نوغم افزاست

گویا بجهان غم حسین است
هنگامه ماتم حسین است

چندیست که چشم خونفشانست
سیلاب سرشك من روانست
ني صبروشکیب دردل من
ني قوت گریه ام بجانست
راضي نبود بزندگاني
دل گرچه بجمع زندگانست
جزغمکده هیچ نیست گیتي
دنیانه سراي جاودانست
گرگي بلباس گوسفند است
این پیرفلك پاسبانست
ازبهردریدن است نازك
پیراهن گل نه پرنیان است
اي چرخ توطرفه کینه توزي
کوآن دلي کزتوشادمانست
چون رفتن ازین جهان بهشتي است
خوش آنکه خلیق ومهربانست
چون حضرت آن امام کش نام
تامحشروردهرزبانست
این شمع هدایت الهي
یارب زکدام دودمانست
یك شاخه ئي از درخت لولاك
یکدانه زمزرع جنانست
اسم حسنش حسین وجدش
سردارهمه پیمبران است
این لخت دل حبیب خالق
مقتول بدست ظالمان است
چون مي شنوم صداي گریه است
چون مبنگرم غمي عیانست

آخربجهان غم حسین است
هنگامه ماتم حسین است

یاران بجهان چه ماجراشد
کزگریه قیامتي بپاشد
خلقي به الم سیاه پوشند
جمعي متمایل عزاشد
هنگامه محشراست برپا
معموره دهرکربلاشد
دشمن که رواشده است کامش
ایدوست چه کارنارواشد
خون باردلاکه مدعي را
کاري بمراد ومدعاشد
آن مفخر دودمان آدم
مقتول بدست اشقیاشد
لخت جگررسول اکرم (ص)
قرباني حرص وآزهاشد
آن کوکب تابناك اسلام
ازحلقه بزم اتقیاشد
آخرچه شد اي فلك که امروز
این فلك غریق وناخدا شد
ازگریه چسان خموش گردم
کاین آب بچشم توتباشد
گیرم شود آتش دل آرام
سیلاب سرشك من کجاشد

آخربجهان غم حسین است
هنگامه ماتم حسین است

مخمس برغزل حافظ

دُره

نمي بینم ترایکدم بگردون مي رودگردم
عقیق ناب مي بارد دودیده بسرخ زردم
نگاهي کن بسوي من فداي دیدنت گردم
مرامي بیني وهردم زیادت میکني دردم
ترامي بینم ومیلم زیادت مي شودهردم

توازحال دل زارمن غمگین خبرداري
بدرد عاشق بیدل ندانم چون نظرداري
مسیحاي مني باید زدردم پرده برداري
بسامانم نمیپرسي نمي دانم چه سرداري
بدرمانم نمیکوشي نمیداني مگردردم

سزاواراینچنین نبودکه پامن در تیامیزي
نه لطف است اینکه یکبارم شب وروزغم انگیزي
نمي شایدکه باتیغ جفا خون دلم ریزي
نه راهست اینکه یکباري مراجاناوبگریزي
گذاري آروبازهم پرس تاخاك رهت گردم

بنه یادست لطف خودبزخم کاریم مرهم
بغم شدزندگاني هاماني دریرم یکدم
مکش ازدست من دامن مزن این زندگي برهم
ندارم دست ازدامن بجزدرخاك وآنهم هم
چوبرخاکم گذر آري بگیرد دامنت گردم

مراخون جگرباراده مادم میدهي تاکي
زصحرایم چوآهوئي بخودرم میدهي تاکي
بصحراي دگروفتي درآن چم میدهي تاکي
فرورفت ازغم عشقت دمم، دم میدهي تاکي
دمارازمن برآوردي نمي گوئي برآوردم

بنازم ساغرچشمت یکي رطل گران میده
زپاافتاده رانیروبجسم ناتوان میده
به ذره ازلب لعلت شراب ارغوان میده
توخرش مي باش باحافظ بروگرخصم جان میده
چوگرمي ازتومي بینم چه باك ازخصم دم سردم

شعروادب در پرتو انقلاب اسلامی

بخت

تمیم

اي وجودم ذره یي ازکوي تو
راح روحم قطره یي ازجوي تو
تاکنم ره را زني ره امتیاز
شدذلیلم نرگس جادوي تو
ماه تواز سرکشیهاشدخجل
تانگه انداخت درابروي تو
نافه مشك تتارانداختن
شدعطیرازنگهت گیسوي تو
مهروهرآرا به آن روشنگري
چون چراغ روزپیش روي تو
ازتجلاي صفاي عارضت
هرنگه پرسوخت،چون شدسوي تو
داغ بردل دارم همچون لاله ها
آتش اندرسینه ام ازخوي تو
جستجوهابیقراروپرفشان
درهواي طلعت نیکوي تو
خسته ام، افسرده ام جس عاجزم
من کجاو قوت بازوي تو

بخت اگرياري کندباري «تمیم»
مي گشایدفال برروي تو !

تګه اوبرګه وروري

قاطن

وروري شوه تګه اوبرګه حقیقت له منځه لاړ
خواخوږو دګاله نه محبت له منځه لاړ
دحرص په بازارګډیو، بل چاته نظرنه کړو
رښتیاموترمنځ نشته،صداقت له منځه لاړ
په یوسف دتوحیدکي وروڼول سکني ورونه
اوس هغه مینه نشته چي الفت له منځه لاړ
حاکمه ځانځاني ده،دوحدت کله بارشوي
دوروغوخپلولي شوه،صمیمیت له منځه لاړ
غوښین زړونه دتیروشول افسوس زمونږپه حال
پنځوپیسولپاره ، عطوفت له منځه لاړ
هرڅوك ځان په فکرغم دکونډي یتیم نشته
په شوموهډقوکي انسانیت له منځه لاړ
حلال وحرام نه ګوري مزي دي اوچرچي دي
وسواس دشیطانت کي امانت له منځه لاړ
په زوروهرمالونه دکمزورو بیوزلانو
رښتیاچي واردورځي دقیامت له منځه لاړ
ناچلوالقانوچي مویه زړونوکي ځاي ونیو
خرڅیږي بري ایمان اوقناعت له منځه لاړ
دلسوزه خلك لاړل دبي رحموواکمني ده
روانه تریګني ده، شفقت له منځه لاړ
داوایه «قاطنه» هسي نه چي یکي دل شي
رښتیاووسرخوږلي واقعیت له منځه لاړ

دحسین (رض) انتظار

ناګار

کربلاڅه ده ؟ انتهادقرباني دخلیل
حسین ددغي کارنامي دوباړپرتم تکمیل
دکربلا ورانګي ابدي دي دامت په افق
ځلي رڼایه ورکوي تل ترقیامت په افق
دخپل باباملت ته دغه دژغرانتزانه
کړه لاهوتیانواستقبال په حیڼانذرانه
کربلا لیکه ده دنوردهرپاڅون په تندي
کربلا نقش دتوثیق دهرمضمون په تندي
کربلا پړك دذوالفقاردي دظلمت سینه کي
کربلا څریکي دپاڅون دي دامت سینه کي
کربلاڅ ته دظالم ترلي لام ښکاري
له شاهیت دخلافت سترانتقام ښکاري
حسین دشوي بدري عهددالمجام نوم دي
حسین دسولي دقانون اوداسلام نوم دي
دحسین پاکه وینه ده دنبوت له رګو
حسین سیرابه په کوثردي دحضرت له رګو
دتقدس ددغي ویني تقاضا همداوي
دحسیني کاروان مرام اومدعاهمداوي
چي له کمیت غبرپه کیفي بناپیغام ورکړي
جتیکه دنه تسلیمیدونکي سترالام ورکړي
حسین تاریخ ته زموږنوي تجلا ورکړه
دنبوت دشارګوریني بقاورکړه
چي بي تجمع اوتمرکز په انتشاربنکاري
اوس هم امت دیوحسین په انتظاربنکاري
بنایي څوك بله بیاډیوه کاندي دبدروحنین
چاوي رګونوکي راوړي چیري تیل دحسین
چي بي حق اداتکړدوخت دسیاست تراني
ناګاره لوله بي تل ترتله دعظمت تراني

دشهید خواست

حفیظ الله تراب

زه هم دچادسترګوتوروم اشنا
په نازبي ورو ورو لوپولم ځان ته
چي لیدژوندپه رنګ اوخوندپوه شوم
قسمت تحفه کړم دغموطوفان ته
چي دروس سرولښکروته خوړلي
ماستاپه پت اوعزت ننګ وکړ
په تشولاسومي دشپلوسره
خداپروپه تره هرځاي جنګ وکړ
په دښتو، غروکي به وم ستړي روان
له تنکوګوتوپه مي ویني تللي
نازکه ملایه مي کارتوسوخوره
هم مي له درده اوښکي پسي تللي
خوږ خوږه دغوکړاونوومه
زه دخپل دین اواستقلال دپاره
ماداحمددتوري پت ساتلو
نه چي زه غل وم دجلال دپاره
چي پرګني تري دجهان ویریدي
له هغه دیوځني ماسرراوړ
دویرو تکوتوروشپولره ما
پیغام دفتحي دسحرراوړ
اوته هم زماله برکته که
خاوندنوم اوددنیا شولي
زه دي بیانیمه لارکي پریښودمه
روان په لاره دجفاشولي
زه دروسانودسرونوقاتل
هرڅه مي تاکړه له اقتدارقرباني
صدآفرین شه وفادي ته وایي
ستاپه مذهب کي به وي دغه ځواني
ماخیردي ویني دریختبلي خپلي
خویتیمان په ګولومه وله نور
زمامزارته به بیا څوك راځي
دابیګناه په تربومه وله نور

آزادنظم

اي ! دوخت مغروره

محمودي

دغرضونواوهوس نه جوړه
اي دقدرت اودمقام مجنونه
جاه اوجلال دي پوره شوي که نه ؟
که نوریه هم زیښناك ته ورکړي دوام
سري،سري دي راغلي په وسکومغروره
خالي له وینوشوکه ولك دي لاجام
دقرض اودادیدي بي کچه پیسو
چري په هوش به شي که همداسي به وي
چیرته بي پلاریتیم دي یاددي که نه
که لاهم هغسي نشه، نشه ئي
دختداژوند، دي ځانته جوړکړیدي
دجسدونویه تخت ناست صاحبه
دشوم مرام ګدي دي جوړه کړه تري
دپاك شهیدمرام دي ولوټاوه
ولي خمار، نشه،نشه ئي راجا !!
وراندي ته نه ګوري سبادي هیردي
مغروره ! ستادي مست ،مغروروصورت ته
موسي دنیل مینځ کي همساټکوي
مظلوم فاتح ظالم مغلوب وګڼه
محمودي پام کوه مایوس چي نشي

دکربلاپه یاد

محمدکریم رحیمي

زه دوخت دظالمانویه څه وایم
دشراویزیدانویه څه وایم
چي په ظلم لړزوي ځمکه اسمان بیا
دسخت زړو جلادانویه څه وایم
چي تنکي ګلونه بي توي کړه کربلاکي
دمعصوموشهیدانویه څه وایم
چي حسین (رض) شهیدوي ځان په ګټه
دقدرت دلیونیانویه څه وایم
چي هیڅ رحم په اولاددنبي نکړي
دناپوهراتساناتو په څه وایم
چي تاریخ بي شهکاري پاندي شاهددي
دادوخت دباتورانویه څه وایم
خپلي ویني تویوي دحق په لارکي
دلوړعزمه خاوندانو به څه وایم
دغه درس یي اسلامي امت ته پریښود
دخپل وخت دعاقلانویه څه وایم
هره ورځ دکربلاپښینه تکراروده
دژرهاوو مظلومانویه څه وایم
خدایه (ج) توره شجاعت دحسین راکړه
ددي وخت دنامردانویه څه وایم
رحیمي وایي الله غفوررحیم یي
ددي ملك دناپوهانو به څه وایم

آزادکن

شبنم «انصاري»

ازجنګ وجدل امروز،واژون شده این کشور
ملت همه آواره،درخون شده این کشور
روزوطن ماشدهچون شب تاراي واي
بنګرکه زبیاري واژون شده این کشور
مسعودستم پیشه افګنده نفاق وجنګ
جاري شده خون هرجاهامون شده این کشور
ګردیده سیاب ... بیهوده سراواعند
ازظلم نظاري حاجي نون شده این کشور
ملت همه بي خانه، افسرده وآواره
ازفتنه ابلیسن دخون شده این کشور

آزادکن این کشورشوراي هماهنګي
آبادکن این کشورشوراي هماهنګي

برباد شده کشورودام بلاافتاد
ازفتنهٔ بیدیستان افسردوزپاافتاد
شوراي نظارآمد باجمع کمونستان
درداکه وطن امروز درجنګ بلاافتاد
دردآوروغم افزاست ملك ووطن افغان
ملت همه درخون خفت میهن زسماافتاد
ازسازش ربانی بادسته بغماګر
ملت به ستوه آمد ازشهرجداافتاد
آخروطن ماشدویرانه ازین فتنه
ازجنګ وجدال امروز سدال قفاافتاد
مغرورشده مردم ازشهرودیپ رایبراي
ازفتنه بیدیستان کابل بمه کجاافتاد ؟

آزادکن این کشورشوراي هماهنګي
آبادکن این کشورشوراي هماهنګي

افسردزبیاري ویرانه شده کابل
بیچاره دیارماغمخا نه شده کابل
آواره شده ملت ازفتنه خونخواران
بیرینده دل ازکشوربیګانه شده کابل
کابل شده آغشته درخون وبخاك افتاد
ازشورش نامردان بتخانه شده کابل
درداکه وطن امروزبیماروودل آزرده است
ازراکت وبیاري دیوانه شده کابل
هجران وطن درمن شبنم اثري ګرده
بیچاره دیارماغمخانه نه شده کابل

آزادکن این کشورشوراي هماهنګي
آبادکن این کشورشوراي هماهنګي

داقتدارخره

مبشر

زماحال دژړیدودي خوته ښاندي
لولپه دي په اوروکړم لاندي پاندي
ازادي کي یم پیداازادلوي شوي
ته کاني دغلامي راسره کاندي
دکوه قاف پردنګوغرونومي پروازو
لوړ،ژور،مي وویکسان ترنظرلاندي
باج مي اخیستودنن له زورورو
خبرنه ومه له خپلي بدي ګاندي
چي په ژرنده دنفاق باندي دلبیوم
پورته کیږي به ترخولي مي دویرساندي
امامت و دامت زمایه برخه
په نفاق دامامت غوڅي شوي مراندي
اقتدارچي بري رندي کادواره سترګي
وي له لاسه به یي تل ویني بهاندي

دخان بربادي

محمدعارف «رحیمي»

ددروغویه وعدودي ځان بربادکړ
په بي ځایه غفلتودي ځان بربادکړ
بندګي درځیني هیره دالله (ج) شوه
ددنیا په هوسودي ځان بربادکړ
شپه اوورځ دبل په تمه غافل پروت ئي
په چټي ، چټي حیلودي ځان بربادکړ
حق دي پریښوددباطل په لاردي تله شول
دشیطان په وسو سودي ځان بربادکړ
په خپل لاس ئي جوړوي ګوره خطاشوي
دقدرت په تلوسودي ځان بربادکړ
خپل عمل دلاري مل دي دامتل دي
په ناوړه عملودي ځان بربادکړ

دژوندرازونه

ولي الله محمد «پرورد ګ»

زغم نوودیراس مي جیګرونه خوري
یاره جدائي مي نورفکرونه خوري
دادغم په مینه به ترکومه وو
ګرمي هواګاني نظرونه خوري
دادژوندکشتي چي ساحل نه مومي
داچي ګمراه دي کاروانونه خوري
اورچي دفراق په کوم ځاي ولګي
هلته هراتوانونه امیدونه خوري
چیرته چي هوس په غلبه ګي وي
هلته سمه غردژوندرازونه خوري
داپه کوم حالت کي چي اوسیږمه
شرم اوحیامي یادګارونه خوري
ربه ستابنده لاس په دعایه
یارمي بي وفاشوتعهدونه خوري

خپلواکي

فریداحمد سهیل

خپلواکي ده له فطرته دانسان
اسارت لاندي ژوندنه مني په ځان
شته پورته خپلواکي نه بل نعمت
سراومال مي له هغه نه شه قربان
دوطن داسپیري خاوري تروي تیګي
وریه نکرم دپره ویه دڅرمرجان
نه هغه ژوندنه چي اختیاریي دبل چاوي
انسان څه چي لایبزاردي تري حیوان
چي په لاره خپلواکي کي څوك سروګا
دهغه نوم تل ژوندي وي په جهان
لدي لوي افتخارنشته دي «سهیله»
چي دین وطن په لارکي ورکړي ځان

شکوه وتمنا

محمداسماعیل«دژم»

خدایا ازوطن دوروم نزارم
بیادش ازدودیده اشکبارم
اگرمردم به غربت درغریبي
که مي گریدبه حال خواروزارم
وطن آبادوسرشارت ببینم
غزلخوان کبك کهسارت ببینم
بگرددصبح روشن شام افغان
شب دیجورالجهارت ببینم
به ملك ماوتراین جنگ تاکي
وطن ازخون ماګلرنګ تاکي
جهان درجاده سیرتکامل
بماوامانده گان این ننگ تاکي
وطن درغربت مردم پریشان
جوان وپیردرسوگ عزیزان
فضاي صاف کشورگشته تاریك
زدوه فیرراکت بازهاوان
مراباشدچنین عرض وتمنا
حضورحضرت حي توانا
رهاندملك ماافغانستان را
ازین قتل وقتال وجنگ بیجا

خاطره کربلا

زلیخالمعه

ایدل بیادبوداماسان کربلا
هردم بگردرود شهیدان کربلا
اولادهٔ علي به دم تیغ کوفیان
بس تشنه لب فتاده بدامان کربلا
همچون فواره خون علي اکبرجوان
لبریزشدزشدت طوفان کربلا
دردولم زبهرشهیدان زیاده شد
برحال زاروزاري طفلان کربلا
شهزاده قاسم آن گل نوغنچهٔ امید
باتیرخصم کشتهٔ میدان کربلا
آن شهسوار ملك امامت،حسین پاك
درخون تپیده است به ارمان کربلا
اي سنگدل یزیدنکردي ترحمي
برحال زاروآه یتیمان کربلا
لمعه به سیل اشك بشدغرقهٔ الم
درموج خون گشته ثناخوان کربلا

درني خبري

ژباړه اوټولونه : ذبیح الله شرر

قاضیان داسي وي !

دامام ابویوسف (رح) په وړاندي یوه دعوه وړاندي شوه ،دهارون الرشید یووزیرهم دشاهدپه توګه حاضرشو.خوامام ابویوسف دهغه شهادت ونه مانه ، وزیرداځان سپکاوي وباله اولاړخلیفه ته ئي دامام ابویوسف نه شکایت وکړ.کله چي خلیفه له امام نه پوښتنه وکړه نوهغه ورته سپینه وویله چي مادده غه وزیرداخبره اوریدلي چي « زه دخلیفه بنده یم »، کوم کس چي دخداي (ج) دبنده پرځاي دخلیفه بنده وي، دهغه شهادت څرنګه منل کیدلاي شي ؟

***

څنګه دعا ؟

سلجوق تاجدارملك شاه یوه ورځ له خپل صدراعظم نظام الملك طوسي سره دطوس جامع جومات ته دلمانځه لپاره ولاړ، کله چي له لمانځه ورووسته له جومات نه راووتل نوهغه له نظام الملك نه پوښتنه وکړه :تاسي له لمانځه ورووسته څه دعاوکړه ؟

نظام الملك ورته وویل : جهان پناه ، مادادعاکړي چي نه دي پخپل وروریري وموسي .

ملك شاه ورته په موسکاوویل: مونږڅه بله دعا کړي ده اوهغه داچي که زه اوسم اوکه ورورمي ، په دواړوکي چي هریو درعیت سه ساتنه وکړي اوچي کوم یوپه ښه توګه حکومت وکړاي شي، بري دي دهغه په برخه وي .

***

لوړه مرتبه

حکیم لقمان تسلاحبشي غلام اوپریدرنګ و، یوځل تري یوسړي پوښتنه وکړه : آیا ته دفلاني سړي غلام نه یي ،حکیم لقمان ځواب ورکړ : بي شکه زه دهغه سړي غلام یم .بله پوښتنه ئي تري وکړه آیا تابه دفلاني غره په لمن کي ګډي نه څرولي ؟ هغوي وویل : هودغه هم سهي ده، پوښتونکي بیا وپوښته « نه غلام ئي، ګډي څروي، نوتادالوړه مرتبه څنګه ترلاسه کړه ؟ حکیم لقمان ځواب وورکړ « ددغولاندي شیانویه واسطه :په خبروکي رښتینولي، په امانت کي دیانت اودبي فائدي خبرو پرځاي چوپتیا »

***

دري زړونه

حضرت مجددالف ثاني فرمائي : کله چي دري زړونه یوځاي شي نودبي حده قبلیدوسبب کیږي :
۱- دشپي زړه یعني وروستي دریمه برخه
۲- دانسان زړه
۳- دقرآن کریم زړه یعني یٰسٓین شریف نوچاته چي یٰسٓین شریف یادوي هغه دي دتهجدوپه لمانځه کي په ډیره خشوع اوخضوع ولولي .

***

له ورخه تللي اوبه

مشهورادیب فریدفلرشیدیوځل محصلینوته خبري کولي، هغه پوښتنه وکړه :" په تاسي کي څومره کسانولرګي اره کړي دي؟ زیاتره محصلینولاسونه پورته کړل. بیا فریدپوښتنه وکړه :" له تاسي نه څومره کسانودلرګي بوره اره کړي ده ؟ کوم محصل لاس پورته نه کړ. نوفرید په جګ اواز وویل : هو، تاسي بوره اره کولاي نه شي ، همدادتیروخت مثال دي، کله چي تاسي دتیروخت په کارونوپښیمانه کیږي نولکه دبوري داره کولو هڅه چي کوي .

ماتي شیشي

کوم خلك چي په جګوځایونودریږي ، دهغوي دراپرځولو لپاره دبرطوفانونه راالوځي اوکه هغوي راولویدل نوبدنونه په ئي دماتي شیشي په شان وشیندل شي .
شکسپیر

زه له هغوخلکونه بیزاریم . . .

دننگرهاریه پوهنتون کي دهیواد صدراعظم ورووحکمتیارد رواڼو حالاتو په اړوند ددغه پوهنتون دمحصلینو پوښتنوته ځوابونه ویلي چي دادي مونږ دهیواد والو دزیات معلومات لپاره خپروو.

له وروو حکمتیار څخه لومړي پوښتنه پدي شکل و شوه :

تاسویه په افغانستان کي د اسلامي حکومت دراتلو دعوي کوله ،په داسي حال کي هغه افراد چي په حزب اسلامي کي دلوړ منصب خاوندان دي هغوي اوس تجاران ،دکورونو اخیستونکي ،ښه موټراخیستونکي اودښځوکوونکي دي تاسو دحزب اسلامي دامیر په صفت ددوي په هکله څه کړي ؟

حواب : زه باید ووایم چي اول خو پدي سوال کي ترډیره حده پوري مبالغه شوي ، حقیقت دادي په حزب کي چي څوك دمنصب خاوندان دي ترټولو نه محروم خلك همدوي دي ،تاسي راشي زموږ داجرایي دغړوډوډوند حالت وګوري ،دابله ورځ هم ماته داجرایي غړي راغلي وو اوهمدایي ویل چي داجرایي دغړومعاشات لږ دي نفر دمیاشتي یونیم زرکلداري دي اوبه دي کي بایدتجدید نظر وشي ،نه شخصي موټري لري نه شخصي کورونه لري ،نه تجارت کوي ، اوبه عام ډول دحزب افراد ټول محروم خلك دي . حقیقت دادي چي حزب کي دملك ترټولونه بي وزله ،ناداره ،غریب خلك راټول شوي دي اوداداسلامي تحریکونو طبیعت دي .

داالله دپیامبرانو یو خصوصیت دي ، دپیامبرانو ملګري اویاران تل دهمدغه درېمي طبقي دبي وزلو اودمظلومو خلکو نه دي . بلي،زه اعتراف کوم چي داسي خلك به هم وي چي اوس په تجارت لګیا شوي ،ځان ته ښکلي جوړوي، اویاموټري اخلي ، داسي خلك هم شاید چي دمبارزي نه ستړي شوي وي اوهغوي دنیمي لاري ملګري وي . اوس به ستوماته شوي وي اودجهاد اومبارزي نه به یي لاس اخیستي وي خوزموږ ته اوامید له هغو خلکو نه دي چي دخداي (ج) سره په خپل تعهدټینګ ولاړدي له خداي (ج) سره یي په دي خبره تعهد کړي چي خپل مال او سر به دخداي په لاره کي وقف کوي اوهدف یي دخداي (ج) رضا ده اودجنت حصول اوهغوي دمال ، پیسي ، تجارت اوموټرله پاره نه دي جنګیدلي هغوي چي هرڅه درلودل دخداي له پاره یي وقف کړي ،اوس یي هم مقصد دادي چي خداي اسلامي نظام په افغانستان کي قایم کړي او زموږ مظلوم ولس ددي حالت نه وژغورلي شي ، دپنځو په باب چي تاسو څه ویلي دي زه ورونو ته ددي توصیه کوم چا سره چي همت وي نو هغه دي دیوي کونډي سرپرستي هم په غاړه واخلي، که د دووکولي شي ددرو اودڅلوروو کولي شي دا به دهغه ډیر همت وي ، حقیقت دادي ، دازموږ یوه لویه اجتماعي مسئله ده دیونیم ملیون شهیدانو چي کونډي اویتیمان پاتي شوي هغه سرپرستي ته ضرورت لري، ددي سرپرستي به څوك کوي ،هغه کوم با همته انسان دي چي راوړاندي شي اوهغه دیوي کونډي اودهغه دیتیمانو سرپرستي وکړي .

زه دهغه همت ته سلام کوم هغه ډیر باغیرته اوباهمته انسان دي چي ایمان اوعقیده یي ترحم اوعاطفه یي وادارو کړي چي هغه ددغسي یوي کونډي سرپرستي په غاړه واخلي ، دصحابه و اوتابعینو په شان داسي وو چي په یو جنګ کي تر دري زره نه زیات کسان په شهادت رسیدلي خو همغه دجنګ په میدان کي دهغوددکونډو مشکل هم حل شوي ، همغه فیصله شوي ده چي څوك ،څوك به ددغوشهداو دکونډوسرپرستي په غاړه اخلي که غواړي چي زموږولس دفسادنه ،دبدکاري نه ،دویروشریفو باحیاخلکو دسقوط مخنیوي وکړي نو لازمي همدغه ده ،قوماندانان دي دا کاروکړي خو ددي تیت اوارادي سره چي دیوي کونډي اویتیمانو دسرپرستي اراده ولري په دي صورت کي به هیڅوك اعتراض نه کوي ، بلکي دابه تشویقوو ،ترغیبوبه یي اما نکاح که دشوق پاره وي نو بیا یوه کافي ده که ددي اجتماعي مسئلي دحل اود ترحم او عاطفي په حکم او دخپل ایمان په حکم اویا د یتیم اوکونډي سره دترحم په اساس وي ترڅلورو پوري دي وکړي زه خو هغه کس ډیر باهمته ګڼم چي دخپل لاس دتیاکو پواسطه ، ، داسي نه چي دبیت المال نه غلاکوي ، رشوت وخوري ،خیانت وکړي ، وسله خرڅه کړي ، اوبه بیت المال کي ناروااوناجایزتصرف وکړي،دخپل لاس له تیاکو نه دڅلوروکونډو سرپرستي کولي شي هغه ډیر با همته انسان دي هغه ویرباعزمه انسان دي ، کاش دغسي باهمته کسان راپیداشي ، موږ خو به هغه ته دعاکوو اوبه دي خبره به اعتراض نه کووااما اعتراض په دي په کاردي چي دناروواو لارونه ، دحرامو لارونه ،که څوك چرچي کوي ښکلي جوړوي ، موټري اخلي ،ځمکي اخلي ، په دي باندي موږ شدیداً اعتراض کوو هغو خلکو ته وایم چي تر تاسو نه کمونستان هم ښه وو ،له کمونستانو نه ښکلي نه دي پاتي شوي ، حقیقت دادي له کمونستانو نه ځمکي اوجایداوُنه نه دي پاتي شوي هغوي په خلکو ظلم کړي دي ډیر ظلم ، هغوي ملك خرڅ کړو، دنوروغلامي یي وکړه دخپل قوم اوولس په خلاف وجنګیدل خودولس نه یي اخیستل دولت ته یي سپارل اوداسي یي نه دي کړي چي هغه دبیت المال نه واخلي ،نظام یي همداوو عقیده یي همدا وه ولي موږ چي په حلال اوحرام باور

> زموږ هرڅه تالاشوي دي ، ملي شتمي ،تاریخي آثار موزیم ،بانکونه اوبه ارګ کي چي څه شتمني وي ، داټولي تالاشوي اوخپني یي جتي داروپااوامریکا بازارونو ته رسیدلي ډي.

لرواوبه دي هم باور لروچي خداي (ج) شاهددي ،خبیردي ،علیم دي ،انتقام اخلي سریع الحساب دي شدیدالعقاب دي ، دهغه مخي ته به ودریږو ،قیامت دي ، دالله په وړاندي به دخپلو عملونو حساب ورکوو، موږ چي نارواکوو،ظلم کوو ،دناروااوحرامولارونه څخه ترلاسه کوو دا زموږ دعقیدي منافي ده اودا قابل دتوجه نه ده . ددي په ځاي خو ددولت کار پریږده جهاد پریږده لاړشه په کوم شخصي کارمصروف شه ،قاچاقبري وکړه ،غلاکوي وکړه خیانت کوي وکړه ، امادادجي جهاد بدنام کړي د اسلام نه دخلکو زړه تورکړي ،اوبیبڅي چي دغه داسلام پڅاداره ده

داسلام سره څه لوبي کوي، دمسلمانانو سره څه لوبي کوي داخولوي ظلم دي ،وروڼو که نوردا کارکوي دهغوي ځاي تاسو ونیسي ، دهغوی خالي ځاي تاسو ډك کړي ، ډیرشاید داسي وي چي سقوط وکړي ،شیطان یي دوکه کړي ،په نیمایي لاره کي خداي (ج) هیرکړي ،آخرت نه شاکړي ډیربه داسي راپیداشي ،په پیسو خرڅ شي ودیو غلام شي ، دا خالي ځاي به تاسو ډکوي ، اوانشاءالله دغسي باایمانه ځوانان به ددغو خلکو ځاي ډکوي زه په دي باندي ډاډه یم اویاوورلرم .

پوښتنه : استاد رباني وایي چي زه په حقه یم اوتاسو وایي چي زه په حقه یم اودواړه په جنګ یاست دجانبینو مرګ څنګه دي ؟ اوتاسو کوم یوبه حقه یاست ؟

ځواب : ددي قضاوت تاسي وکړي اوملا دعوي نه ده کړي چي زه په حقه یم زه ددي قضاوت تاسو ته اومسلمانانو ته پریږدم ،چي څوك په حقه وي هغه ته ووایاست چي په حقه یاست اوبوازي به په دي اکتفا نه کوي دهغي ملګرتیا اوملاتړ به هم کوي ، اودحق اوباطل ترمینځ قضاوت ډیر آسانه دي .

باوروکړي چي څوك خپل ایمان ته رجوع وکړي ، بوازي ګوشه شي ، خلوت شي ،دځان سره ډیرپه آساني قضاوت کولي شي داغرض دي ، تمه ده ویره اوخوف دي چي ددي باعث ګرځي چي انسان دحق او دباطل ترمینځ قضاوت ونشي کولي ، تاسو ددغه تیروپیښو په جریان کي وګوري چي په حقه څوك دي هغه څوك چي په حقه وي دهغه ملاترووکړي.

پوښتنه : هغه پوستي چي دکابل – جلال آباد په لاره پرتي دي هغه په حزب اسلامي پوري مربوطي قواوي دي .

دهغوي کارونه دملت په وړاندي چي اجراکوي غیر انساني اوغیر اسلامي دي تاسو دحزب اسلامي د امیر په صفت دهغوي په هکله څه کړي دي ،حال داچي دهغي کارونو څخه ټول خلك متنفردي اوتاسو هم په دي خبریاست ؟

ځواب : زه له هغوخلکو نه اظهاردبرائت کوم چي په حزب پوري ځان مربوط ګڼي خو ولس ته صدمه رسوي اوشوکي کوي ، خلك اذیتوي ، حرام خوري، زه له

> ان شاءالله دحزب اسلامي مجاهدین چي ترڅوژوندي وي دکمونستانو پرخلاف به جهادکوي

هغوخلکو نه بري یم اودالله په وړاندي دهغوي نه اظهار د برائت کوم نه زه دهغوي نه یم اونه هغوي له مانه دي ، هغه داسي خلك دي چي که ددوي په نسبت موږ اشتباه کړي ده ځان سره مونیولي یاهغوي اشتباه کړي ده غلط، سنګریي انتخاب کړي دي ، دهغوي ځاي بل دي،اشتباه یي کړي زموږ خواته راغلي ،موږ داحزب ددي له پاره جوړکړي چي اسلام حاکم کړي، اودولس خدمت وشي ، دمظلوماتو مرسته

وشي په دي لویه لاره کي دناخوالو نه خبریږو ، دشوکواوظلم نه خبریږو ، په کلکه له هغه نه نفرت کوو هغه په شدت سره محکوموو ، که دا جګړي نه وي تاسو به لیدلي وي چي موږ له هغوي سره څه کول ،متاسفانه چي وضعیت داسي دي چي ترڅو په کابل کي یوه قوي اداره جوړه نشي په ټول ملك کي امنیت تامنیول ګران دي ، دهري پولي شاته کولي شي یوګروپ ودریږي اووخت ناوخت موټرودروي ، دخلکو نه څه تر لاسه کړي ، شوکي وکړي ، ظلم وکړي .

په دي باندي کنټرول هلته ممکن دي چي کابل کي یوه قوي مرکزي اداره جوړه شي ،ترڅو چي قوي مرکزي حکومت نه وي جوړشوي دامشکلات به ادامه لري ، موږ بخپله مکرروراغلي یو ، حزب دهمدي فیصله کړي وه چي دوو دریو موټرو سره به یه عادي شکل راځو چي داوضعیت وکړوګوفیصله مو کړي چي په دي لاره کي هغمجاهدینو یوه پوسته نه وي ، موږ مخکي چي راغلي وو ټولي پوستي مو ختمي کړي وي ،حلوروامنیت داداري پوستي مراچولي وي موږ حتي دجلال آباد دجهادي شورا سره داخبره یاده کړه چي دي ته تیاریو چي دلغمان دولایت زرکسان دي د ماهیپر نه تردرونتي پوري مستقر شي اوددي ټولي لویي لاري امنیت دي هغه تامین کړي صرف یو دوه پاټکه باید وي په سرخکان کي او هغه هم دسابق په شان دمعمول مطابق قانوني پاټکونه یو هم په سروبي کي ،نوربایډ ټولي پوستي ختمي شي ،ددي لویي لاري امنیت باید یوه قوماندان ته وسپارلي شي ، دا ټوله منطقه باید دهمغه یو قوماندان ترامنیت لاندي راوستل شي ،موږ جهادي شورا ته داخبره کړي امید دي چي په دي باب څه تصمیم ونیول شي ، هغه بله ورځ هم ما په سروبي کي ټول قوماندانان راغونډ کړي او ورته ویلي مو دي چي زه دا حالات تشیم زغملاي اوبه دي ټوله اویږده لاره کي باید یوه پوسته هم د مجاهدینو نه وي ، یوکس هم حق نه لري چي موټر ودروي ،هغه تفتیش کړي له هغه نه پیسي واخلي موږ دا ظلم یولو اوخیانت اوناروا، زه ورونو ته اطمینان ورکوم چي موږ په جدي توګه دلته متوجه یو خومتاسفانه دجګړو په وجه داکارلږګران شوي دي امید دي چي دامشکل حل شي.

پوښتنه : اکثراً ستاسي په خلاف تبلیغات کیږي شرق اوغرب تاسي خپل دښمن بولي ټول له تاسي نه تشویش لري ددي علت څه دي ؟

حواب : داچي ددي ځوارلس کلن جهاد په دوران کي درژیم او روسانو تبلیغات بوازي زماپه خلاف وو دنورو رهبرانو نوم نه اخیستل کیده . دبل تنظیم مجاهدینو ته به یي هم ویل چي دګلبدین بچیانو ،شعار به زموږ پرخلاف ورکول کیده شاید وجه یي همدغه وي چي دا مبارزه زموږ او کمونستانو ترمنځ په پوهنتون کي شروع شوي وه اوموږ یوبل سره پیژندل ،شاید لویه وجه یي هم داوي ،تبلیغات په کابل کي ،دکابل رادیو تلویزیون لاتر اوسه پوري (اسلامي دولت هم جوړشوي!) زما په خلاف لګیا دي په ځوارلس کالو کي هم اوبه دوو تیروکلوکي هم شاید دتشویش لویه وجه همدغه وي له مانه مهاجرین تشویش نه لري څکه یوبل پیژنو هر کمپ ته تللي یو، په جومات کي مو ورسره لمونځ کړي ،ټولو مراسمو کي ورسره شریکیږو ، دوه اودستور کي په ښالرا اوغم کي له مانه مهاجرین تشویش نه لري متیقن یم چي مجاهدین هم تشویش نه لري .اوعام خلك هم ګمان نه کوم چي له مانه تشویش ولري . هغه څوك له موږ نه تشویش لري چي له اسلامي حکومت نه ویریږي .

یاهغه چي دکمونستانو دتبلیغاتو ترتاثیرلاندي راغلي اویا هغه چي B.B.C اوصداي امریکا ورته تشویش ایجادکړي دوي تشویش لري .

پوښتنه : ولي دخلکو قناعت نشي ترلاسه کولي ؟

ځواب : متاسفانه چي زه له دې نه عاجز یم چي ټول خلك قانع کړم خوزه یوه خبره ورونو ته کوم او هغه دا چي څوك چي دښمن ته لري په هغه باورمه کوي ، ښه خلك هم دوست لري هم دښمن دپیامبرانو هم تایید شوي هم یي مخالفت ، کله ،کله داسي شوي چي مخالفت یي ترتایید نه زیات شوي ، نوح علیه السلام پنځوس کاله کم زرکاله په قوم کي پاتي شوي هغه دخداي پیامبر دي ، دهغه سره فقط دومره کسانو ملګریتا کړي چي په یوه دکي کشتي کي ځاي شوي په دکي کشتي کي ورسره یوځاي شوي یعني کشتي ډکه وه معمولي څه لخایونه یي خالي وو، دهغه دملګروشمیر دومره کم وو چي په یوه دکي کشتي کي له هغه سره یوځاي شي حتي ښځي یي هم دهغه ملګرتیا نه ده کړي ، زوي یي هم ملګرتیا نه ده کړي .

اوتاسو وګوري قرآن چي د هغه مخالفت څنګه شوي دي ، په کومو شدیدوالفاظو شوي هغه څوك چي دښمن نه لري هغه منافق دي ، چي ټولو ته برابروي دهرچاسره دوستي ساتي هیڅوك یي مخالفت نه کوي هغه منافق دي .

چي هرڅوك ورنه طمع لري ، هر چاته سرخوځوي اوهیڅوك ورنه احساس دخطرنه کوي هغه منافق دي ، چي څوك دریځ لري موقف لري شعارلري خبره لري ، پیام لري اودیو هدف له پاره جنګیږي هغه به خامخا هم دوست لري هم دښمن اوداتوقع کول چي موږ ټول خلك قانع کړو داګرانه ده داخومره موجي قانع کړي دي داډیره لویه خبره ده .

پوښتنه : دارهبران ولي نه سره یوکیږي اوبه یوبسي نه ځي .

ځواب : درهبرانو قانع کول ډیر ګران دي ،زه داخبره دفخر له پاره نه کوم فقط دیوه واقعیت په حیث یي وایم اوالله داڅوك چي تاسو رهبرګڼلو په کابل کي ددي هر یوه کورته موږ ورغلي یو اوموږ دا دعوت کړي خو یو هم دي ته تیار نه وو چي په هغه وخت کي دي په څرګند ډول سره له دي تحریك سره ودریږي یعني زه دهریوه داستان تاسوته بنودلي شم چي چیرته په کوم وخت کي موږ دهغه کورته ورغلي یو، دعوت کړي مو دي چي راځه ددي تحریك مشري ته واخله ده دهریو داستان تاسوته ویلي شم په دغو دووکلونو کي هم هریوته موږ ورغلي یو ویلي مو دي چي راځي تاسو سره ټول شي پر یو رهبریاندي ،زه دامنم پس له هغه چي له هغو نه مایوس شوم داقبصله موورکړه چي

> څوك چي دي حکومت ته اسلامي وایي ،یاپه اسلام نه پوهیږي یاداسلام سره جفاکوي

مؤقت حکومت باید داسي جوړشي چي رهبران به کي عضویت ونه لري ، درهبرانو قانع کول ډیر ګران دي.

پوښتنه : که په کابل کي حکومت ته ورسیږي نو دمخلوط نظام اونوروداسي ناممکن غوښتي کارونو کي به موڅه پروګرام وي ؟

ځواب : موږیه مخلوط نظام اواداره باور نه لرو ، علم په ښځه اونارینه فرض دي اوقرآن په دواړو نازل شوي دواړه دهغه په پوهیدو مکلف دي ، خو په مخلوط نظام باورنه لرو موږ باید د ښځو دتعلیم له پاره دشریعت مطابق ، دشریعت په چوکاټ کي بېل نظام ولرو.

پوښتنه : تاسي دائتلاف مخالفت کوي خواوس مو پخپله ائتلاف جوړکړي دي ؟

ځواب : دا ائتلاف نه دي بلکي دا شوراي همآهنګي ده د ائتلاف اوتنسیق ترمینځ فرق دي اوتر اوسه پوري موږ کومه ائتلافي اداره اوائتلافي حکومت نه دي جوړکړي ، په هغه جنګ کي چي پرموږ دواړو تحمیل شوي زموږ ترمینځ تنسیق راغي همآنګي راغله دائتلاف ترمینځ اودتنسیق ترمینځ تفاوت ډیر دي ، که چیرته موږ ائتلافي اداره جوړه کړه بیا له مانه سوال وکړي ، زه به ځواب وایم ،تر اوسه پوري موږ ائتلافي اداره اوائتلافي حکومت نه دي جوړکړي. زموږ شعار دادي چي مؤقت حکومت دي جوړشي دتنظیمونو په توافق تفاهم سره بیا دي انتخابات ترسره شي چا چي اکثریت وګاټه هغه دي حکومت وکړي.

پوښتنه : اکثراً محصلین وونه ستاسو څخه داغوښتنه کوي چي دننګرهار پوهنتون دمهاجرو محصلینو لپاره دتورخم له سرحد څخه دعبورمسئله حل کړي دپاکستان څخه غوښتنه باید وشي ؟

ځواب : انشاءالله موږ خپل ټول کوشش کوو چي دامشکل حل شي هغوي له موږ سره مئلي چي څوك پاسپورت ولري دویزي غوښتل به نه وي، متاسفانه چي دپاسپورت قیمت هم ډیر اوچت دي ، موږ کوشش وکړ چي په کابینه کي دا فیصله وکرو چي دپاسپورت قیمت ډیر کم کړو په نازل قیمت باندي خلکو ته وورکړي شي متاسفانه چي ونشو توانیدلي په هرصورت هغوي دامني چي که استاد وي دهغه په تګ راتګ کي مشکلات نه ایجادوي .که څه هم داستادو سره سره دتورخم په طرف تیریدو په جریان کي خلك له ډیرو مشکلاتو سره مخامخ دي امید دي چي دامشکل حل شي ،خداي (ج) دي دافغانستان دالوي مشکل (دکابل مشکل) حل کړي نور مشکلات به په خپله حل کیږي ، دهجرت سلسله به هم ختمیږي ، دتورخم دتیریدو راتیریدو مشکل به هم حل کیږي.

پوښتنه : حزب اسلامي خومره قدرت لري چي دکمونستانو په خلاف جهاد وکړي یعني څوکاله مسلحانه جهاد کولي شي ؟

ځواب : ان شاءالله دحزب اسلامي مجاهدین چي تر څوژوندي وي کمونستانو په خلاف به جهاد کوي کم له کمه دوه کاله خوموږ مقاومت وکولي شو. هیڅا هم ددي تصور نشو کولاي ،اوډیروګمان کاوه چي شاید په همغراولو مباشتوکي حزب اسلامي ختم شي اوډیرو خو له ویري نه هم دحزب اسلامي ملګرتیا پرېښودله داسي خلك هم شته که څه هم شمیریي ډیرکم وو له همد ویري نه چي شاید حزب اسلامي نوروختم شي دحزب اسلامي ملګرتیا یي پریښودله خو لله الحمد حزب اسلامي تر اوسه پوري مقاومت کړي مخکي تللي په شانه دي راغلي موږ له خداي (ج) سره تعهدکړي ترڅو چي ژوندي یو دهغه ددین په لاره کي به جنګیږو دالحاد او کمونیزم په خلاف به جهاد کوو.

پوښتنه : تاسي دکمونیست رژیم دپاتي یرغځ اوملیشي په هکله څه نظر لري ایا هغوي ټول کمونستان نه دي اویابوځ اوملیشي یو له بل سره فرق لري ؟

حواب : زه یو وضاحت په دي ارتباط کوم حقیقت دادي چي درژیم مدافع قوتونه په څوبرخو ویشل کیداي شي یو دهغوي اعتقادي کمونیست افراد دي چي دحزب وطن په نسبت یي تعهد درلود اودامفکوره یي دایډیولوژي په حیث اودعقیدي په حیث منلي ده اویوهغه چي رژیم یو وخت په خپله پالسي کي تبدیلي راوستي هغه وخت چي اردو ختم شوي نوردکمونست په نامه هغوي په اقتدارکي دپاتي کیدو تصورنشو کوي . شعارونه یي بدل کړي اوددفاع قوتونه یي جوړکړي ،ملیشي یي جوړي کړي داملیشي په کندهارکي ،په ننګرهارکي ، په کنړکي په لغمان کي دافغانستان په ګوټ ګوټ کي په ټولو ولایتونو کي وې .زیات شمیریي هم په هرات کي و، دملیشو داقوتونه په افغانستان کي په نوروولایتونو کي ونشو

توانیدلي خپل موجودیت وساتي ،په هرات کي څه نا څه پاته دي او جنرال رشید دوستم وتوانیدلي شو دیوقوت په حیث پاتي شي ، عوامل یي هم څرګنددي.

تاسو ته واضح دي دکمونست رژیم اعتقادي ملګري اوس هم همغه دجبل السراج ائتلاف په نتیجه کي دکابل اداري په څنګ کي ولاړدي ، جنرال بابه جان هلته دي ،جنرال امیرمحمد هلته دي اوس دوزارت دفاع سرپرستي عملاً جنرال امیر محمد کوي،چي یومشهورکمونست دي فریدمزدك ،نجم الدین کاویاني له هغوي سره اوهمدغو کمونستانو په وجه دي چي مسکووړته پیسي چاپوي اوکابل ته یي رالیږي .

ددغوقووتونو ترمینځ تفاوت همدادي جنرال دوستم دقواپه بنیاد وتوانیدلی شو یو قوت جوړشي .اوهغه خپل موجودیت دیوقوت په حیث وساتي اودرژیم هغه کمونست قوتونه اوس هم د کابل داداري په څنګ کي دي دهمغه دجبل السراج دائتلاف په اساس .

پوښتنه : په تکرارسره تاسو داخبره کړي ده چي شاه نوازتني ته موږهیڅ قسم نظامي اوسیاسي واك نه وورکوو اوهغه موږ سره دیویندي په حیث ژوند کوي خو تن هغه خپل تنظیم په رسمیت سره اعلانوي علت یي څه دي په دي هکله خپل مفید معلومات موږ ته وړاندي کړي ؟

ځواب : ما ددي وضاحت مخکي کړي ، دکمونست رژیم سره چي چا مرسته کړي ، هغوي ته پناه ورکول ، هغوي ته عفو کول دابیله خبره ده او له هغوي سره ائتلافي حکومت جوړول بیله ، ددي دواړوخبرو ترمینځ ډیرتفاوت دي موږ دجهاد په دوران کي په دي باور درلود اوددي مطابق مو عمل کړي . څوك هم چي دکمونست رژیم نه رابیل شوي موږ هغه مئلي که ده یوه پوسته درلودله،که دیو بلوك قوماندان وو که یي کندك درلود ،که یي فرقه درلودله موږ هغه مئلي په ابتدا کي زموږ دوسلو اصلي منبع همدغه وه موږ ته په چغه سراي کي یوغونډ تسلیم شو لومړي ځل له پاره یي له ځان سره اتیاراکټي راوړي ، له دي نه دمخه موږ راکټ لانچر نه درلودل . اولین ځل زموږ مجاهدینو راکټ لانچر ترلاسه کړي هغه د اسمار دغرني غونډ پیوستون نه وروسته و، ددغه غونډ دانضمام په وجه دوي هلیکوپتري ، دري زره ملیه وسله ،دوه دیرش زیکاویك اتیا میله راکټ انداز زمادا حساب تر اوسه پوري په یاد دي په دي خاطر چي هغه ډیر اهمیت درلود په هغه وخت کي نه موږ کلاشنکوف درلود اونه موراکټ ،داول ځل له پاره زیکاویك ،آر پي جي هفت او کلاشنکوف دهمغه غونډ دیوځاي کیدو نه پعدزموږ په لاس کي پریوتل دا راز په زابل کي یو غونډ یو ځاي شو، وسله یي راوړه اوترآخره پوري هغه غونډ پاتي شوي . موږ په دي باور لرو کمونست رژیم نه چي څوك رابېل شوي هغه موږمنلي ماته ووایي چي یو قوماندان کولي شي یوه پوسته په پیسوواخلي قوماندان ته یي پیسي ورکړي واسطه شي ، سفارش وکړي بالاخره هغه ته رشوت ورکړي چي هغه ددوي سره یو ځاي شي که دا جایز وي نو وزیر دفاع سره هم داکارکیدي شي ،دفرقو قوماندانانو سره هم داکارکیداي شي ددي دواړوترمینځ فرق څه دي؟ اعتراض په دي کي دي چي تاسو په یوه اسلامي اداره کي هغه څوك له ځان سره ونیسي چي هغه په

> حقیقت دادي چي په حزب کي دملك ترټولوبي وزله ،ناداره اوغریب خلك راټول شوي اوداداسلامي تحریکونو طبیعت دي .

اسلام باور نه لري که موږ دغسي یوه اداره جوړه کړه چي په هغه کي موداسي افراد له ځان سره ونیول چي هغه په اسلام د ایډیولوژي پهحیث دنظام پهحیث دعقیدي په حیث باور نه لري په موږ باندي اعتراض کولي شي .

پوښتنه : آیا تني حزب نه دي جوړکړي ؟

ځواب : ترڅو چي موږ په پاکستان کي وو نو دوي حزب نه و جوړکړي ،دیومهاجر په حیث پاکستان کي اوسیده .

اوس هم هغه حزب نه لري اواوس دحزب دجوړولو امکانات هم ختم شوي . مامخکي ددي تفصیلي ځواب ویلي په دي مختصرځواب باندي اکتفا کوم .

پوښتنه : دابل سوال هم تقریباً عین شي دي تاسوویل چي موږدسازش اوائتلاف په نتیجه کي حکومت سره مخالف یونوروسره هم موافقه نه لرو ولي اول ځل تاسي دااقدام وکړوله تني خلقي سره موائتلاف وکړ ؟

خواب : زه بیاوایم چي موږ ائتلاف نه دي کړي موږائتلافي اداره نه ده جوړه کړي . هروخت چي موائتلافي اداره جوړه کړه بیا وریاندي اعتراض وکړي . موږ دکمونستانوسره ائتلاف نه دي کړي اونه یي کوو. هرهغه څوك چي دخپلي سابقي نه نادم شي،خداي اواسلام ته رجوع وکړي هغه په وازه غیږمنوخوهغه به بلاقیداوشرط منو. هغه به په قدرت کي دبرخي داخستلوشرط نه وضع کوي بلاقیداوشرط چي څوك راځي موږهغه منو، پیغمبرعلیه السلام مثلي اواسلام هم همداحکم کوي .

پوښتنه : هغه علتونه چي تاسي ورته اشاره وکړه که جمعیت په هغه تداوم وکړي نوآیاحزب اسلامي به یي همداسي په مقابل کي په جنګ بوخت وي ؟

ځواب : موږجنګ نه غواړو،مکرروایوچي بایدمسئله دروغي جوړي اوتفاهم له لاري حل شي، جنګ زموږپه خلاف پیل شوي ، جنګ کمونستانوپیل کړي،زه ددي جنګ په شروع کي نه له استادرباني نه شکایت لرم اونه له مسعودنه بلکه جنګ دکمونستوجنرالانوترقوماندي لاندي زموږپرخلاف پیل شوي . موږله ځان نه دفاع کړي، هره لحظه چي مقابل طرف دجنګ نه لاس اخستي موږروغي جوړي ته تیارشوي یوترکومه چي هغه دمعاهدي التزام کړي موږله هغوي سره خوشیدلي یو . چي کلمه‌هغه معاهده نقض کړي بیا جګړي ته متوسل شوي موږمجبور شوي یوله ځان نه دفاع وکړو . اوس هم موږنه دجنګ خبره کوو،نه دځان له پاره څه شرایط لرو، دمسئلي حل غواړو ،دجنګ خاتمه غواړو دهمدي له پاره وایو تنظیمونه دي کیني یوموقت حکومت دي جوړکړي بیا دي انتخابات ترسره شي دافغانستان مسئله دي په دي ترتیب حل شي، له جمعیت سره زموږ خبره همداده .

پوښتنه : په انتخاباتوکي دمجاهدینوپرته نورو کسانوته دکاندیدحق وورکوي ؟

ځواب : زه په دي باوریم چي داپه تنظیمونوپوري مربوط ده هروازانتخابات منم، غوره طریقه دانتخاباتوداګنم دافغانستان دموجوده ظروفواوشرایطو سره سم چي دمتناسبي نمایندګي په اساس انتخابات وشي. احزاب دي کاندیدشي ،دریاست جمهوري له پاره دي انتخابات وشي اوچي څوك اکثریت ترلاسه کوي هغه دي درئیس جمهوریه حیث ومنلي شي، مستقیماً دي دکابیني په راس کي هغه ته حق وورکړي شي چي کابینه جوړه کړي، کیداي شي کابینه هم داسي جوړه شي چي هرتنظیم ته دخپلو آراتوبه تناسب برخه وورکړي شي، اوداکثریت تنظیم حکومت جوړشي بلکه هرتنظیم ته دخپلو ... په تناسب ، په پارلمان کي دخپل حصر... سم اومتناسبه برخه په حکومت کي وورکړي شي اوبیا دي هرتنظیم دخپلو ... تناسب نمایندګان شوراته معرفي کړي دوهم ځل انتخاباتوته ضرورت نشته ... کي صدراعظم ته هم ضرورت نشته چي دصدراعظم اورئیس جمهور ترمینځ کشمکش ختم شي اوداتجربه په هرملك کي ناکامه وه .

په پاکستان کي داتجربه ناکامه وه ،په ایران کي ناکامه وه، ددنیاپه هرملك کي چي تاسوګوري چي چیرته رئیس جمهوردي اوصدراعظم دي دهغوي ترمینځ داقتداردویش پرسرکشمکش دي، دصلاحیتو دودویش پرسرکشمکش دي ددي له پاره باید کشمکش ختم شي

> زه اصولاً په دي باوري یم چي په صدراسلام کي دحضرت عثمان (رض) او حضرت علي کرم الله وجهه ترمینځ دیوه دانتخاب په باب حتي له بنحوڅخه هم تپوس شوي و

اولارښي همدغه ده چي مستقیماً رئیس جمهورکابینه جوړه کړي، داسلام نظام همدادي ، اسلام کي خلیفه دي، امیرالمومنین دي اوهغه مستقیماً دحکومت په راس کي هم دي، دیوځ قوماندان هم دي، دکابیني راس کي هم هغه دي اوبیکارهم داده دي چي دغسي یونظام موږولرو دریاست جمهوري له پاره باید جهادي مشران کاندیدوي، اودرایه ورکوونکراودرایه اخیستونکو له پاره باید مواصفات وضع شي، لستونه باید ترکیب شي، په دي ترتیب زموږنظرورونوته واضح دي چي موږ دچاکاندیدکیدواودچادرایه ورکولو سره موافق یو .

پوښتنه : په انتخاباتوکي دښځي دکاندیدیدو له پاره اجازه وورکوي که نه ؟

ځواب : داسوال دمولوي صاحبانونه وکړي . هغه باید ددي ځواب وورکړي . ترهغه حایه پوري چي زه معلومات لرم نویوددظروفو او دشرایطو په اساس خبره کول دي په دي ظروفواوشرایطو کي زه موافق نه یم امایواصولاً دمسئلي په باب څه ویل دي ، زه اصولاً په دي باوریم چي په صدراسلام کي دحضرت عثمان (رض) اودحضرت علي کرم الله وجهه ترمینځ دیوه دانتخابیه باب حتي له ښځونه هم تپوس وشو، داحادیثو کتابونه په صریح ډول وایي . حضرت عبدالرحمن ابن عوف دهرچانه تپوس کړي حتي له ښځونه ، حراب باید علماووایي په دي باب باید منتخبه شورا فیصله وکړي چي آیاظروف اوشرایط څه حکم کوي، داسلام حکم څه دي، همسي خبره دانه ده چي آیاښځونه دانتخاباتودرایه ورکولو حق څوك ورکوي که نه تراوسه پوري خلك دانه مني چي نارینه وو ته داحق وورکرشي بوواري نارینه داحق ترلاسه کړي بیابه خبره کوو چي څوك دي رایه وورکړي، څوك دي وورنکړي ، تراوسه پوري خوخلك دانه مني چي نارینه دي رایه وورکړي . اوس خووایي چي بوازي رهبران دي رایه وورکړي، لویه جرګه دي دائره شي ،اودقومونو مشران دي رایه وورکړي ، ولس دراېي حق نه لري اواستدلال همدادي چي آیا عالم اوفاسق سره برابردي اوعالم اوجاهل برابردي په دي خاطرباید بوازي دقوم مشرانوته ، تخبه ګانوته درایي وورکولوحق وورکړي، حال داچي په اسلام کي په دي باب څه تفکیك نه دي شوي، دامیردانتخاب حق تخبه ګانوته نه دي سپارل شوي اسلام بعیت دهمدي له پاره شرط ګرځولي اودادهرچاحق دي . په دي هکله دي له خداي نه ویریدونکي علماچي هغه په اسلام ، ددین اوعقیدي په حیث باورلري هغه فتوي وورکړي، ښځي خودُسي دي چي متاسفانه هغه دین داموجودیه اجتماع کي عنعنات ، دود اودستورګني اوډیرشیان چي دین جائز هم ګڼلي خوچي پښتونې جائزونه ګڼي هغه وورسره مخالف دي، ښځي داسي هم دي.داسي خلك چي له دین نه واقف دي اوبه ربښیاهم قرآن اوحدیث باندي احاطه لري ، نسبي احاطه اوهغه دفتوي وورکولو درجي ته رسیدلي، له داسي علماونه باید تپوس وشي، دلته په منتخبه شوراکي باید په دي باندي بحث وشي اوبه هرصورت که له ښځي نه تپوس هم کیږي هغه به داسي تپوس نه وي لکه دااوس چي کیږي، دحدودویامالیدل یکي وي ، بلکي داسلام حدوداوچوکاټ کي به داکارکیږي ددي فیصله به شورا اوعلماکوي

(۷)مخ

اعترافات جریدهٔ اتحاد به خلاف کاري هاي گذشته سیاف

جریده اتحاد مربوط گروه سیاف درشماره (۲۳٤ مورخ (۲٦) جوزاي خودتحت کلیشه (سرمقاله) ابتدا برسبیل عادت اجیرانه ٠گردانندگانش باانتشار کردن چند سب ودشنام عاري از اخلاق به روزنامه شهادت ، متعهدین وامیرحزب اسلامي ،یك سلسله کارنامه هاي سیاف را که تاحال نزد اکثریت مردم باوورکردني نبود ، به نشر رسانده که اینك غرض معلومات مزید خوانندگان مطالب مذکور را بدون تصرف بدست نشرمي سپاریم هرچند نویسنده خواسته است بامداحي و پر رویي سیاف راازآن آلودگي ها برائت بدهد ولي برمبناي ضرب المثلي (دروغگوحافظه ندارد) ویا هم بنابر وارخطایي بیچاره درخوشخدمتي چنان افراط کرده که ناخودآگاه تمام اوصاف بدسیاف را نکته نکته بیان داشته است .

نویسنده سرمقاله اتحاد تحت عنوان (چراشهادت به استاد سیاف حمله مي کند در قسمتي ازسرمقاله اش مي نویسد:

حتماً استاد سیاف جرمي رامرتکب شده که ازطرف شهادت بااین شدت مورد حمله قرار مي گیرد وآن جرم مي تواند ،یکي از موارد ذیل باشد:

استاد سیاف هنگامیکه حکومت نجیب هنوز برسرقدرت بود ،باوساطت دشمنان درجه یك اسلام وکشوریعني قذافي ،صدام ویاسرعرفات با نجیب تماس پنهاني گرفته ونمایندگانش دربغداد وطرابلس بطور سري بانمایندگان حکومت کمونیستي دیدارنموده وبه توافقات وسازش هاي خائنانه ونتگین دست یافته اند. (از احتمال بعید نیست٠ امضاي معاهده ننگین جبل السراج به کارگرداني سیاف گواه براین ادعاست)

استاد سیاف در دوران جهاد علیه حکومت کمونیستي وبعدازآن روابط خیلي نزدیك ودوستانه وبرادرانه باقذافي وصدام داشته وباربار با آنها دیده است ودرشرایطي که صدام وقذافي باجهاد ماسخت مخالفت کرده باتمام نیرو ازتهاجم روسها به افغانستان حمایت مي کردند وي ازین دودشمن اسلام کومکهاي هنگفت مالي دریافت نموده است. (بلي سیافیکه ازگرفتن کمك از دست ناراسیماراو ویلتسن باك ندارد از قذافي وصدام بصورت اولي میگیرد.)

استاد سیاف از ابتداي جهاد تاسرنگوني حکومت کمونیستي به نیروهایش درتمام جبهات دستور داده است که نه علیه روسها وایادي شان بلکه علیه مجاهدین همه تنظیم ها ودرهمه مناطق جنگ هاي خونیني رابراه اندازند واختلافات دردناکي رابنیاد نهند .(بلي ازظاهرامرهمین چیز استنباط مي شود ،سیاف که به کرات سوگند یاد نموده بود که وي تنظیم نمي سازد مگر وي با تنظیم درست کردن فقط براي ایجاد اختلاف میان گروهها کارمي کند)

- استاد سیاف درتمام دوران جهاد مخالفان مسلمان خود وافراد برجسته تحریك اسلامي رادرسنگرودرمهجر باتوطیه ها ودسایس مختلف ازبین برده است، (همین ادعاوقتي حقیقت پیداکرد که مردم به چشم‌سر ویراني غرب کابل وحمله وحشیانه سیاف به میدان رامشاهده کردند)

- استاد سیاف به فکر آن بوده است که از راه کودتا هاي عسکري وسازش وتباني با کمونیست ها به قدرت برسد (بلي ! آشنایي وي باجنرال ظریف ،جنرال دلاوروجنرال بابه جان و ... بهمین منظوربود .)

-استاد سیاف با حاتم بخشي براي همه کمونیست ها وملیشه هاي قاتل ملت درمجلس فاتحه استاد احمد زي شهید اعلان عفو عمومي کرده وتمام جرایم ننگین وجنایات سنگین آنها رابخشیده وحیات شان راتضمین کرده وآنهم به این امید که کمونیست ها از راه سازش دسیسه زمام حکومت رابه وي بسپارند.

(آري ! امضاي معاهدهٔ جبل السراج که منتج به ادارهٔ ائتلافي فعلي شد مثال عمده همین حاتم بخشي سیاف بخاطررسیدن به کرسي خیالي صدارت بود)

- استاد سیاف به انتقام نرسیدنش به قدرت وکرسي حکومت که به بهانهٔ وجود ملیشه ها وکمونیست ها درکابل اهالي مسلمان آنرا قتل عام کرده بود ، کنار آمده وباآنها ائتلاف ننگین وشرم آوري تشکیل داده وهمسنگروهمنوا باملیشه هاوکمونیست ها مسلمانان بیگناه راقتل عام مي کند وباعث جلوگیري آرامش واستقرار صلح ومانع بمیان آمدن حکومت نیرومند ومستحکم اسلامي درکشور مي گردد ، (بلي ! همین حالا جنگیدن ملیشه هاي سیاف درکنار ملیشه هاي جنرال بابه جان ،جنرال امیرمحمد ، جنرال دلاورو دیگرجنرالان خادیست، شاهد این مدعاست)

- استاد سیاف به دشمنان خارجي وداخلي اسلام وکشور تعهد سپرده است که جنگها راتاوقتي ادامه بدهد که ذخایراسلحهٔ مهمات مجاهدین بپایان برسد وآنگه زمینه براي تشکیل حکومت غیر اسلامي درکشور مساعد گردد . (درست فرمودید ! خواست بقایاي امین لعین که درگرد دسترخوان استاد جمع شده اند نیز چنین است) ،

- استاد سیاف به اسلام کریموف وعده داده است که دربدل بمبارد طیاره هایش به افغانستان ،پست وزارت دفاع و حکومت چندین ولایت وکنترول شاهراه هاي مهم کشور را به دوستم بسپارد ودست او وملیشه هارادردزدي وچپاول وغارت خانه ها واموال مردم درمناطق تحت کنترول خود باز بگذارد وازهمه مهمتر مانع نفوذ بنیاد گرایي درآسیاي میانه شود. (بلي ! این وعده بامسافرت استاد رباني به تاشکند به مشورهٔ سیاف امضا ، شده بود.)

- استاد سیاف سوگند خورده است که هزار سال علیه ملت بجنگد تانسل درنسل این ملت را ازبین ببرد واسلام رابکلي ریشه کن سازد وبدینگونه عطش انتقام دشمنان اسلام بخصوص کمونیست ها راکه از جهاد افغانستان سخت صدمه دیده اند ، فرونشاند .

(چون سیاف درسوگند خوردن وحانث شدن مهارت دارد ، بعید نیست که این سوگند را هم خورده باشد.)

تذکر: تبصره هاي کوتاهي که درداخل پرینتیزز آمده اند ،مربوط شهادت است باقي مطالب افشاگري هاي جریدهٔ اتحاد است که باتشکرازسرمقاله نویس آن عیناً اقتباس گردیده است .بااین اعترافات جریدهٔ اتحاد چهرهٔ سیاف بیشتراز پیش به مردم معرفي مي گردد و زود است که نویسنده هاي اجیر اتحاد با تمتع معکوس از پول هاي حرام سیاف که از کیسهٔ ادارهٔ ائتلافي وازطریق ماسکو تامین مي شود از روي حقایقي دیگري دربارهٔ سیاف پرده بردارند.

مساوات و...

شخص عادي نزدتو برابر جلوه نکنند توشایسته منصب قضاتیستي وازین قبیل گفتار هاي دیگر او بهترین مثال مساوات درعدالت وقانون بشمارمیرود.

به همین ترتیب حضرت علي رضي الله عنه درعهد خلافتش بحیث مدعي به محکمه قاضي شریح پیش شد ومدعا علیه اویك شخص ذمي بود ،قاضي شریح به حضرت علي گفت ابوتراب دربرابر مدعاعلیه بنشین ، قاضي شریح فکر کردکه شاید این حرفش به حضرت علي ناخوش واقع شده ،گفت ابوتراب شاید این دستورمن براي تو ناگوار واقع شده باشد حالانکه مساوات درعدالت وقانون تقاضامیکند که تومدعاعلیه باید برابرهم قرارگیرید.

حضرت علي رضي الله عنه جواب داد : اینکه تومرا بامدعا علیه برابرقراردادي برمن ناگوار واقع نشد بلکه برمن ناگوار این بود که تومرابا‌کنیتم خطاب کرده ویراي من احترام کردي ، وبه این ترتیب بامدعاعلیه ناانصافي نمودي .

قرآن مجید درزمره بیشي هاي فرعون یکي این راقلمداد مي کند که قوم خویش رابه طبقات اعلي وادني و شریف ورذیل تقسیم نموده بود واز آن یك گروه راموردظلم وتجاوز قرارمیداد . چنانچه مي فرماید:

ان فرعون علافي الارض وجعل اهلها شیعایستضعف طایفة منهم (القصص ٤)

ترجمه: فرعون درزمین سرکشي کرد وباشندگان آن رابه گروه ها تقسیم کرد ،از آن میان یك گروه رامستضعف قرارداده برآن ظلم مي کرد.

زه له هغوخلکونه بیزاریم ...

پوښتنه : زموږ په هیوادکي جگړه روانه ده دهغي سره زموږ دهیواد دوه نیم زره کلن تاریخي آثارټول خرځ اولوټ شول اوتري په بازارونوکي په ډیره کمه بیه وپلورل شول. تاسو ددي په هکله څه اقدام کړي دي اوکه کولوته ئي حاضریاست ؟

ځواب : حقیقت دادي چي زموږهرڅه تالاشوي دي شخصي شتمني ، ملي شتمني، تاریخي آثار، موزیم بانکونه اوپه ارگ کي چي څه شتمني وي داټول تالاشوي، حتي داروپا اوامریکابازارونو ته رسیدلي څیني هم دروته انتقال شوي، دقوماندانانوپه لاس کي پرتولي ، زموږپه ملك دغسي حالت راغلي ددي مخنیوي فقط یومرکزي قوي حکومت کولي شي، ترهغه وخته پوري چي مرکزي حکومت جوړيږي داسلسله به ادامه لري. که دچاپه ملي شتمني او تاریخي آثاروباندي زړه سوځيږي توهغه دي ددي بحران نه دملك دایستلوله پاره ملاوتړي، په ملك کي داسلامي قوي مرکزي حکومت دجوړولو له پاره ملاوتړي .

پوښتنه : تاسو عمومي عفواعلان کړي تاسوخپل ځان له طرفه دااعلان کړي ؤ آیا دشهیدانو دوارثانوسره مومشوره کړي وه اوبه اعلان کي دعمومي عفوکوم شرعي دلیل شته اوکه نه ؟

ځواب : دشهیدوارث حق لري چي دخپل قاتل نه تپوس وکړي اوهغه شرعي محکمي ته حاضرکړي هیڅوك حق نه لري چي دهغه داحق سلب کړي، اودهغه نه دپوښتني اومحکمي ته درجوع حق واخلي ترهغه ځایه پوري چي ،په موږپوري خبره مربوط وه داعفو مواعلان کړه ، داعفومعلوموقاتلانوته نه ده شوي چي هغه متهم په قتل وي اودهغه مدعي معلوم وي ددي له پاره شرعي دلیل هم شته حضرت پیامبر علیه السلام چي کله دفاتح په حیث مکي ته داخلیږي دهمدغسي عفو اعلان کوي، همغه کسانوته عفو اعلانوي چي په تیرو ټولو کلونو کي دهغه په خلاف جنگیدلي دهغه جلیل القدره یاران ئي په قتل رسولي ، هغه ئي له خپل ملك نه مهاجرکړي دمکي مکرمي نه ئي مهاجرکړي هغه مکي ته داخلیږي اووایي چي نن دترحم ورځ ده ، نن دعفو ورځ ده اواعلان کوي چي څوك مکي ته داخل شول حرم ته داخل شول هغه مصئون دي چي چاپه ځان پسي دخپل کوردوازه وتړله مصئون دي چي څوك دابوسفیان کورته داخل شودقریشو دلښکرترقوماندان چي په ټولو جنگونوکي قیادت دهغه په لاس کي وکه ددي کورته هم څوك داخل شوهغه خوندي اومصئون دي ، پیغمبر علیه السلام صرف څلورکسان اعدام کړي هغه هم دانتقام په وجه نه بلکه دهغوي جرم بل ؤ، نورټولوته ئي عفوهم کړي، موږدهمدي حکم سره سم داعفو اعلان کړي ده .

پوښتنه : کومه واقعه چي په اسلام آبادکي دافغانستان په سفارت کي وشوه دچاله طرف وه آیا دادمسعودکسان وو یانه ؟

ځواب : دادمسعودکسان و دوه ئي دپروان وو، خادتربیه کړي و ، امنیت ملي تربیه کړي وو ، پاکستان ته ئي لیږلي‌دو، دابرنامه ورکړشوي وه ،دهمدي برنامي سره سم هغوي اختطاف کړي ، متعلمین ئي گروگان نیولي وبیا دوي واسطه شوچي مسئله دخبرواترو له لاري حل اوفصل شي بالاخره هغه نفریه قتل ورسیدل اوددوي په خلاف دعکس العمل په شکل دوي په کابل کي دپاکستان په سفارت حمله وکړه ،دابرحقیقت دي په دي کي مبالغه نشته اودادچاپه خلاف تبلیغ نه دي .

پوښتنه : ددووکلوحکومت چي اسلامي نه دي نوولي تاسي په کي برخه اخیسته په اسلام آبادکي موشرکت وکړ اوهمدارنگه په جلال آبادکي مو بیعت وکړ ؟

ځواب : حقیقت دادي چي ددوکلونوتیرحکومت اسلامي نه وو څوك چي دي حکومت ته اسلامي وایي بایه اسلام نه پوهیږي ،یاداسلام سره جفاکوي، یاغواړي چي اسلام بدنام کړي . مونږنه غوښتل چي په حکومت کي برخه واخلو، درهبرانوتینگارپه دي وو چي صدارت تاته درکوو مشروط په دي چي ته به صدراعظم کیږي ، ماغوښتل چي بیاهم بل څوك دصدراعظم په حیث معرفي کړم داول ځل له پاره هم‌ستاسو، به په یادوي چي مونږاستادفریددصدراعظم په حیث معرفي کړولي تاسو ولیدل چي له هغه سره څه معامله وشوله ، په دوهم ځل په اسلام آبادکي ماغوښتل چي بل څوك معرفي کړم، له ابتدا نه زموږ نظرداووچي رهبران دي په مؤقت حکومت کي برخه نه اخلي، یومؤقت حکومت دي جوړشي دټولو په تفاهم درهبرانونه پرته بیادي انتخابات وشي اورهبران دي ترانتخاباتو پوري انتظارویاسي . مونږغوښتل چي کیداي شي زمونږدشرکت په نتیجه کي دي حکومت ته یواسلامي حکومت جوړکړو

خوتاسوولیدل چي له مونږسره څه‌معامله وشوهٔ ترپایه پوري صدارت تخلیه نشو، له کابل رادیوڅه ، دجبل السراج رادیوواپه که دکابل رادیو داتبلیغات کیدل چي صدراعظم چهارآسیاب کي دي ، کابل ته داخلیدلي نشي ترڅوچي زمونږشرایط ونه مني کابل ته نشي داخلیدي، اوکابل ته که راځي خوامنیت به ئي مونږ ساتو،زمونږ مخي ته ئي تاسوته معلومات دي چي څوك اچولي وو اوترپایه پوري دکابینې دمکروفیصلو سره ، سره هغوي دي ته تیارنشول چي دصدارت نه مسلح قطعات ووځي، په هرصورت مونږپه دي نیت داحکومت جوړکړ، توافق موکړ چي جنگ مونه غوښته ، غوښتل موچي سوله تأمین شي اوکه کیداي شي ټول رهبران په خپلوتعهداتوودریږي ، انتخابات ترسره شي لکه څنگه چي تعهدشوي وو وروته خپلوژمنوته احترام وکړي اومشکل حل شي .

پوښتنه : مونږله دي نه په تشویش کي یوچي دشیعه گانومذهب اوگونداوهمدارنگه دکمونستانویوه وله چي په شوراي هماهنگي کي موجود ده منحیث دیوگوندپه افغانستان کي پاتي شي هیله ده په دي باره کي څه معلومات راکړي ؟

ځواب : زه بایدداخبره په واضح الفاظو وکړم چي شیعه زمونږ دملت یوجزدي ، هغه به دخپلو ټولو اسلامي حقوقونه برخمن وي، مونږدهغوي دختمولو، دوړلو، دملك نه دشړلو اراده نه لرو. دهغوي په خلاف دجنگ کولو اراده هم نه لرو، اولکه څنگه چي زمونږمذهب وایي چي مونږ اهل قبله نه تکفیرو، هغوي تکفیروو هم نه ، منحیث المجموع هغوي نه تکفیرو ومگر هغه څوك چي کفر ورته واقع شي، هغه بیله خبره ده، داسي کسان په ستیانوکي هم شته اومونږغواړوچي هغوي مطمئن اوسیږي چي په افغانستان کي به دخپلوټولو اسلامي حقوقو نه برخمن وي ، هغوي ځان ته گوندلري، گوندهم ساتلي شي، مشروط په دي کي چي دهغوي دگوندپه برنامه کي په واضح الفاظولیکل شوي چي هغوي به اسلام باورلري،اسلامي حکومت غواړي، اسلامي نظام غواړي، هره وله چي برنامه کي ئي مرام نامه کي ئي اهدافو کي ئي په واضح الفاظو دالیکل شوي ئي چي په اسلام باورلري، اسلامي نظام غواړي، اسلامي حکومت غواړي ، په خداي یقین لري ،په آخرت باورلري، قرآن مني، پیغمبر باندي ایمان لري حلال اوحراموباندي یقین لري اوبه ټولومومن به شیانوباندي باورلري ،مونږ هغه دمسلمان په حیث پیژنو، هغه ته دگوند جوړولو حق ورکوو، دهغه په خلاف اعلان دجنگ نه کوو، هغوي ته اطمینان ورکوو چي په افغانستان کي ژوندکولي شي کمونسته وله په افغانستان کي نشومنلي، نه ئي فردمنلي شو، نه ئي حزب منلي شو، نه دگوند په حیث هغوي ته په افغانستان کي دکارکولوموقع ورکوو اونه دفرد په حیث ، زه کمونست دفردپه حیث هم په افغانستان کي نشم منلي څه خوداچي هغه دیوحزب پاگوندپه حیث ومنم. زه په خپله په دي خبره ولاړیم اوتاسوسره تعهدکوم دکمونستانوپه خلاف چي چاجنگ کولو که زه ترهغه نه دمخه نه وم ، نوخامخابه دهغه په څنگ کي ولاړیم . که اول وزمي ونشوکولاي ان شا الله دوهم فیریه زه کوم، کمونستان مونږپه افغانستان کي دیوي ولي اودگوند په حیث نشومنلي اوبه هغه چاهم دکمونست حکم نشم کولي چي هغه وایي زه په خداي (ج) ایمان لرم لمونځ کوم، روژه نیسم ، په قرآن باورلرم په آخرت یقین لرم اواسلامي نظام منم، اسلامي حکومت منم ، په هغه چاباندي هم دتکفیرحکم نشم کولي،زمونږ موقف ددغوگوندونو په باب همدغه دي .

دگوندونو په ختمولو هم باورنه لرم دزوراودقوت له لاري نه ، امابه محدودوقوي احزابوباورلرم باید محدود احزاب ولرو اوقوي، انتخاباتوکي دغه سیستم غوره کړو چي دهغه په نتیجه کي خومحدودقوي احزاب رامینځ ته کړو، دیراحزاب دتشنج اودتشتت اوپراگندگي ، انارشیزم اوډیډنظمي باعث گرځي. محدود احزاب بایدولروخوبه انتخاباتوکي باید داسي یونظام وضع شي، دمثال په ډول ووایوچي څوك په لمړي انتخاباتوکي ونشي توانیدلي چي دمجموعي آراوتونه په سلوکي لس ترلاسه کړي په راتلونکي انتخاباتوکي دیوتنظیم په حیث برخه نشي اخستي ، لاړدي شي دبل تنظیم سره دي یوځاي شي په دي ترتیب مونږواړه ،واړه تنظیمونه ، محلي تنظیمونه چي دملت په سطح نه وي جوړشوي بلکه څه منطقوي اومحلي بنیادونه ولري دااحزاب ختم کړي وي اوبه ټولو احزابوکي مومدغم کړي واي .

داحزابو تحدیداومحدودول په دي ترتیب نه چي استعمال دقوي وشي بلکي دیوي معقولي لاري نه باید دااحزاب محدودشي

پوښتنه : په دي تورموده کي ستاسي مواقف اودریځونه بدل شوي، ددي اصلي علت څه دي ؟

ځواب : یوسیاسي حزب کله هغسي کوي کله داسي ، جمود، خمودخامخا دتوروبه نسبت یوموقف درلودل اوهیڅ نو ابتکاراونو آوري نه کول داخوبه هیڅ صورت کي صحیح نه ده .

مونږ چي څوك گوروچي دهغه پالیسي سیاست اودریځ زمونږ دملك ،داسلام اودملت دمصلحت په خلاف دي دهغه سره مخالفت کوو، چي وموليدل دهغه دریځ دملت په گټه دي ، دملك په گټه دي دهغه سره به دوستي کوو اوتاسوبه لیدلي وي چي په پاکستان کي کله هم مونږدپاکستان دحکومت موقف داسي لیدلي چي زمونږله اهدافوسره ئي تصادم کړي . په صریحو الفاظو مودهغه مخالفت کړي. زه تاسوته یوواضح مثال وایم دژنیومذاکراتوکي دپاکستان حکومت برخه واخیسته ، مونږپه صریحوالفاظودهغوي دمذاکراتو مخالفت کړي، حال داچي دپاکستان حکومت رسماً دیوطرف په حیث تللي په دي مذاکراتوکي یي شرکت کړي، مکررئي له مونږ نه غوښتي چي که ددي مذاکراتوتائید نشوکولي کم له کمه بایدساکت اوخاموش پاتي شولي مونږسکوت نه دي کړي په صریحو الفاظو مودهغه مذاکراتو مخالفت کړي اوویلي مودي چي په دي مذاکراتوکي دافغان ولس غایندگي هیڅوك نشي کولي. نه دپاکستان هیئت زمونږغاینده دي اونه تجیب ، په دي مذاکراتوکي افغانان مطرح نه دي دهغوي دنتایجو په نسبت هم التزام نه لري که کوم توافق وشو دهغه توافق په نسبت مونږهیڅ نوع التزام نه لرو.

همدارازمونږ دایران داسلامي انقلاب نه پس هلته خپل دفترونه پرانیستل ولي زمونږ اوداایران دحکومت ترمینځ څه سؤتفاهمات راپیداشول مونږخپل دفترونه وتړل تقریباً ئي‌پانهو کلونوله پاره دادفترونه بندوو ترڅوچي دنجیب حکومت نسکورشواوله هغه نه بعد په دي وروستیوکي مونږددي کوشش وکړ چي داسوتفاهم زمونږاودایران ترمینځ راکم شي اوختم شي اوس زه دومره ویلي شم چي زمونږاودایران ترمینځ مناسبات ښه دي،زمونږ اودپاکستان ترمینځ هم مناسبات ښه دي، مونږ ددغومناسباتوددمزید ټینگښت له پاره لگیایو، مونږغواړو دخپلوټولو همسایه ملکونوسره مخصوصاً هغه چي زمونږ دجهادملاترئي کړي ، زمونږ مهاجرینوته ئي پناه ورکړي ، له هغوسره زمونږښه مناسبات وي اوایران یوله همغو ملکونوڅخه دي، زمونږورسره اختلاف وو ددغواختلافاتوبه وجه مونږخپل دفترونه تړلي وو مونږ کوشش کړي چي داسوتفاهم رفع شي اوس داسوتفاهم رفع شوي اوس زمونږ اودهغوي ترمینځ مناسبات ښه دي .

پوښتنه : اکثرغیرشرعي کارونه اودځیني کسانوله خوا مجاورونه کیږي ددي حل څنگه کیداي شي؟

ځواب : نوچیرته چي اداره وي داشکایت هغوي ته وکړي هغه دي پوښتنه وکړي دشریعت مطابق دي دهغه په حصه کي اجراآت وشي، که داپه جلال آبادکي وي دلته څارنوالي شته محکمه شته، والي شته ، قوماندان دامنیې شته ، دهغوي په باب تاسوته معلومات درکوي هغه دي پوښتنه وکړي دشریعت مطابق دي هغوي سره معامله وشي .

وروروحکمتیاردآزربائیجان په هکله دوروستي سوال په ځواب کي وویل :

که دادي دبل چاپه حواله ویلي وي ښه وو خومولوي صاحب خنجاني داخبره نه ده کړي .اوبه هرصورت تاډیراساسي سوال کړي، زه دومره ویلي شم چي که په اسلامي ملکونوکي په کوم یوتعرض کیږي اودا تعرض صریحاً دیوغیراسلامي قوت اودملك له خوا وي اوهلته حکومت به ظاهرکي همداوایي چي زه مسلمان یم اونوروسلماناتونه په همدي خاطر مرسته غواړي چي ځان دهغوي دملت اود کیش یوعضوگڼي ، زه په دغومسلماناتو باندي دهغوي مرسته فرض اوواجب گنم الله (ج) دغسي فرمائي که دوي له تاسونه په دین کي مرسته وغوښتله نوبه تاسو باندي دهغوي مرسته اوتابید فرض دي ، نوداآذربایجان حکومت هم له مسلمانانو څخه مرسته غواړي لکه دعیسوي ارمنیانوله خواپري تعرض شوي مسلمانان باید وروسره مرسته وکړي .

(له کست نه پلي کرنکي:عبدالهادي نیازي)

ازگپ، گپ مي خیزد

اتحاد : عملکردهاي حکمتیار بخشي ازتوطیه علیه جهاد وعلیه افغانستان است (سیاف) .

شهادت : اي ناجوان ، اگرعمل حکمتیارچنان بود، پس چرا سال گذشته ملبوحانه تلاش میکردي تا بادعوت هاي متواتر به پغمان اوراشکارنمایي . همینکه اوبنابرکیاست وزرنگي بدامت نیفتاد ،اکنون از فرط خشم وبزدلي تهمتي که شایسته خودت است به اونسبت میدهي ! چنانکه قبلاً اورا مریض میگفتي، بعداً ثابت شدکه اوصحت است مگر خودت مریض هستي ! منتظرباش حالاهم بزودي ثابت خواهدشدکه اودوست جهاد ومردم افغانستان است . ولي توهستي که عملکردهایت توطئه علیه جهاد وعلیه مردم افغانستان است .

اتحاد :حزب وطن وکمونست ها درادامه ناامني درافغانستان نقش دارند .

شهادت : بلي همینطوراست ! پس زودشویدبه ولي نعمت تان بگوئید که کمونست هاي معروف چون مزدك ، کاویاني ، جنرال بابه جان ، جنرال امیرمحمد،جنرال دلاور ودیگران راکه لیست تفصیلي آن حتماً نزد استادسیاف افتاده است، ازسنگرتان دورسازد . .

اتحاد : متصرفین شهرکابل چه کساني اند ؟

شهادت : همان هائیکه کارت قوماندان عمومي گارنیزیون کابل به امضاي دگرجنرال بابه جان را درجیب دارند !

اتحاد : سیاف درخطاب به برادران عرب : دوستان (مجاهدین) رادرنیمه راه رهانکنید .

شهادت : کاش شماورباني هم چنین مي کردیدوباامضاي معاهدهٔ ننگین بامبارك ، سندنامبارك ارهابیت وتسلیمي آنهارابه رژیم مصر تقدیم نمي دادید !

اتحاد : دشهادت جریده کومه چي محترم قاضي صیب وقادشهارس کاله دمخه تاسیس کړي مگراوس دهغي غوره مال چلوونکي ، انجنیرگلبدین حکمتیاردهغه موسس بولي .

شهادت : غوره مال هغه دي چي خپله يي شپرکاله دشهادت په نشریه کي دهمدي کلیشي ترعنوان لاندي چي دشهادت موسس حکمتیاردي ، کارکړي دي خواوس دقلیل متاع دلاس ته راوړلو په خاطر غواړي چي دغه تاریخي حقیقت مسخ کړي !

اتحاد : زه دستني له سیم نه اوښان باسم .

شهادت : نوبیاذي استادسیاف ته دصدارت چوکي مبارك وي !

اتحاد : زموږ په عقیده مخکي لدي نه چي داشومه توطئه عملي شي ، حزب اسلامي باید کمونستان پريږدي ،نورکمونستان هم تجریدشي، اودحزب اسلامي اودولت په منځ کي روغه جوړه راشي .

شهادت : دادپرښه خبره ده ، له حزب اسلامي سره کمونستان ، اوهغه چي تاسي ورته اشاره کوي،هغوي خوډپرونه داسلامي اردو جزوو . له چاسره چي کمونستان دي سیاف دهغوي ترڅنگ دمجاهدینوپرخلاف جنگیږي .

اتحاد: به گزارش منابع خبري یك کاروان بزرگ مشتمل بردههاموتر باربري حامل مقدار بزرگ مواد غذایي وسوخت ازشیرخان بندربه کابل مواصلت نمود .

شهادت : خوب شدکه قبل ازهمه خوداعتراف کردیدکه یك کاروان حامل موادغذایي وسوخت از شیرخان بندربه کابل مواصلت کرد. همه میدانندکه شیرخان بندردرمرز افغانستان وتاجکستان موقعیت دارد وروژیم کمونست تاجکستان توسط روسها حمایت مي شود .

آنچه که از شیرخان بندربه افغانستان مي آید، همه ازروسیه وتاجکستان وارد مي شود،شما که ازپنج ماه به اینطرف مدعي هستیدکه باملیشه وکمونست حساسیت دارید ، پس موادغذایي وموادسوختي کومك روسیه وتاجکستان کمونیست راچطورپذیرفتیدوچطوربي شرمانه وصول این کاروان را به کابل براي نیروهاي شکست خورده ومحصور ائتلاف پیروزي مي شمارید !!

فتح : کمونستانوپه ځینوجهادي تنظیمونو کي نفوذ کړیدي (سیاف)

شهادت : هو ! دسیاف همدایوه خبره سمه ده خو په جهادي تنظیمونو کي دکمونستانو له بندي خاني نه پشاورته راولیږل شو .

فتح : محاصره اقتصادي کابل شکست .

شهادت : خوب شد هدایاي رفیق رحمانوف ورفیق یلتسن متبعد مانند هوا ازطریق زمین هم به کیسه تان مي ریزد . مگرشعارمخالفت باکمونست هارا آهسته تربگوئیدکه ازکومك هاي سخاوتمندانه محروم نشوید .

فتح : مردم اندکه باید زعامت کشوررا انتخاب کنند . (رباني)

شهادت : چرا عوام فریبي مي کنید، راي مردم بوسیله انتخابات اظهارمي شودوشمامخالف انتخابات هستید،پس مردم چگونه زعامت کشوررا انتخاب کنند ؟ خریدن افراد کوچه وبازار وجمع کردن ایشان دریك تالار بنام شوراي حل وعقد ،ممثل راي مردم شده مي تواند ؟!

فتح : شایعهٔ ازدوران خارج ساختن پول هاي موجود افغاني توسط دولت اسلامي صحت ندارد.

شهادت : طبعاً حیات دولت اسلامي ! که بهمین پول هاي چاپ مسکووابسته است هیچگاه آنراازدوران خارج نمي سازد .

فتح : چرا رئیس جمهوراستاد رباني باید به کارش ادامه بدهد ؟

شهادت : بخاطریکه دوره دوساله سلطنت او، طلایي ترین دوران صلح و آرامش وترقي ورشدفکري واقتصادي درافغانستان به شمارمیرود ، ازتدبیروغلبه نظم وثبات دولت اوبیني کسي هم تاحال خون نشده ویك خس ازملکیت شخصي ویادولتي بیجا نشده است ومردم افغانستان سالهاي سال خاطرات شیرین این دوره را فراموش نخواهندکرد ودریك کلمه سلطان عادلي چون استادرباني درتاریخ افغانستان هرگز تیرنشده است !!

داسلامي امت...

گرځولي وو.اوخامخا به ددوي هغه دین (دژوند لیار) ورته ثابته کړي چي (الله) ورته غوره کړي دي .

اوخامخا به ددوي داربه امن اوسکون سره بدل کړي دوي به زماعبادت کوي اوله ماسره به هیڅ شي شریك نه گرځوي . سوره نور (٥٥) ایة .

داسلامي امت داعزت اودبدبه تر هغه په برخه وه چي دخداي جل جلاله سره رښتني اودخداي په لیارکي یې رښتني جهاد کاوه دوي دخداي (ج) ددین سپاهیان وو چي دخداي (ج) دین یې لري ختیځ څخه دافریقا تراخره پوري ورساوه اوبه دي ډول دځمکي د وچي په دري برخو کي داسلامي امت اوچت بیرغ رپاندو.

خوکله چي اسلامي امت د مشرولي صفات له‌څانوڅخه لري کړل ، دخداي سره یخپله وعده پاخه پاتي نه شول . دخداي په لیارکي یې جهاد پریښود لو دنیمگړي اوباتي دنیا مینه وورسره زیاته شوه . نو خداي جل جلاله هم ددوي په برخه کي خپل هغه اجتماعي قانون تطبیق کړ چي فرمایي د(عذاب نازلول) څکه چي الله پاك هیڅ وخت خپل نعمت په یوقوم نه بدلوي ترڅو هغه قوم خپل حال بدل نکړي . سوره انفال (٥٣) ایة

هغه مهم عوامل چي په اسلامي امت کي یې بدلون راوسته په لاندي ډول په گوته کیداي شي.

دپاچاهي په سرجگړي ،قومي ،قبیلوي اوکورني تعصبونه ،ددین په اصولو اوفروعوکي اختلاف ،ددښمنانو دسیسي ،داسلام له واقعي روح سره ناشنایي هغه اسلام چي خداي رانازل کړي دي دحقیقي لارښوونو پريښودل اوبه ځاي یې رواجي اسلام منل .

پورتنیو عواملو ددي ټولني په ټولو اړخونو خوراساسي اثر وکړ چي دټولني له لاسه یې دتمدن اولارښوونې مشري واخیسته . اوله هومره ستونزو سره مخ شول.چي که غرونه ورسره مخ شي نو خاوري به شي .

اسلامي امت د متیدي له مخي دنیمگرتیا وسره مخ شو، اخلاق یې دعلم‌څخه لري شول له دین‌څخه یې خبره - یو دبل دحال څخه ناخبره دواکمنانو دفساد اوظلم سره مخ ،اودړوند په ټولو اړخونو کي په داسي گهوډیو سره مخ شول .چي دهردښمن ورته دتیرولو او هضمولوشوق راځي آن تردي چي دخداي بدترین مخلوق (یهودیان) هم دمسلمانانو په خوړلو مصروف دي.

دامرحله خورا خطرناکه وه ،دښمنانو هومره کاروکړ چي مسلمانان پخپل دین خپل تمدن او هرڅه یې باوره اوددښمنانو په تمدن ،علم اودړوند په نوروساحو کي دهغوي په نقشوروان شول ،دښمنانو وکولي شول چي خورالوي لوي اسلامي لښکري له منځه یوسي اواسلامي امت په کوچنیو کوچنیو ټولیو قومونو ، قبیلواودلو وویشي .

دجهاد، ایثار، شهادت او تسلیم نه منونکی
شهادت
ارگان مرکزي حزب اسلامي افغانستان

شمارهٔ مسلسل (۱-۸۰) پنجشنبه (۲) سرطان ۱۳۷۳

احکام دین خودرابیاموزیم

انواع سه گانهٔ حج

حج افراد: آنست که حاجي هنگام احرام بستن فقط نيت حج کند وبگويد اللهم اني اريدالحج .

حج قِران : آنست که حاجي ازميقات زمانيکه احرام مي بندد، حج وعمره رايکجا نيت کند وبگويد اللهم اني اريدالحج والعمرة ، زيرا قِران عبارت است ازجمع کردن ميان حج وعمره دريك نيت .

اين حج نزد احناف نسبت به حج تمتع وافراد افضل تراست .

حج تمتع : آنست که حاجي درماه هاي حج قصدخانه کعبه کندواز ميقات نيت عمره نموده احرام بندد وبگويدالللهم اني اريدالعمرة وبعدازاداي عمره يعني طواف خانه کعبه وسعي ميان صفاومروه خودرااز احرام بيرون مي کندوچون روزهشتم ذالحجة داخل شود يعني يوم ترويه نيت حج کندوبراي حج احرام بندد . ناگفته نماندکه حج تمتع برحج افراد افضل تراست .

(استفاده ازمنابع فقهي)

فرمان الهي

صداقات مخصوص فقرائي است که درراه خدا ناتوان شده وقي توانند درزمين سفرنمايند ونادان آنها راتوانگري پنداردبه سبب طمع نکردن وخودداري ازسوال ولي توآنها رامي شناسي ازچهره شان ، ازمردم به الحاح وزاري سوال نمي کنند .

(بقره - ۲۷۳)

ارشادنبوي

ازابن عمررضي الله عنهما روايت است که رسول الله صلي الله عليه وسلم درحاليکه برمنبر بود ازصدقه وخودداري يادآوري نموده فرمود : دست بالا بهتراست ازدست پائين ودست بالادستي است که صدقه مي دهد ودست پائين دست سوالگر است .

(متفق عليه)

اخبار کوتاه جهان

ازجنگ هاي شديد در کيگالي پايتخت روآندا ،گزارش شده است . جنگهاي يادشده در روآندا بيشتر ازنيم مليون قرباني بجا گذاشته است .

***

امريکا اعلان داشته اگر کورياي شمال تعهد خود را مبني برتوقف پروگرام ذروي تجديد نمايد،امريکا ازوضع تحريمات بين المللي عليه آنکشور جلوگيري خواهد کرد وباب مذاکرات ميان سران دوکشور باز خواهد شد .

کلنتن ميگويد منتظرجواب کورياي شمال درچند روز آينده ميباشد.

***

براساس توافقي که ميان روسيه و پيمان (ناتو) بعمل آمده روسيه ميتواند در تمرينات مشترك ،وظايف حفظ صلح وعمليات نجات همکاري کند .

بر اساس اين توافقنامه روسيه ازحق هرگونه تصميم گيري درين پيمان محروم است .

***

طيارات رژيم صهيونستي براي سومين روز متوالي پايگاها ي جنبش مقاومت حزب الله درجنوب لبنان را بمباران کردند، ازتلفات وخسارات احتمالي گزارش نشده است، همچنان به اثر آتشباري نيروهاي رژيم صهيونيستي قبل از ظهرروز سه شنبه برشهر نبطيه يك دخترخوردسال مجروح گرديد .

***

سره له دي چي په روندا کي دحکومت پر ضد وسله والو خلکو دفرانسي دهغي خبري په هکله چي وايي خپل عسکر به دملگروملتو ترسيوري لاندي هغه هيواد ته استوي سخت مخالفت څرگند کړي .

مگرفرانسي برخلاف، تصميم نيولي چي په هرقيمت وي دوي به خپل عسکر روانداته ليږي.

***

دايران حکومت په ايران کي دبهم دچاودني اوددي چاودني دقربانيانو په ياد دملي ماتم ورځ وټاکله .

دعاشوراپه ورځ چي زياتره ايرانيان دعاشورا ورځې دلمانځلو په غرض سره راټول شوي وو دبهم يوه دردونکي چاودنه وشوه چي دهغي په نتيجه کي له (۷۰) څخه زيات مسلمانان مړه اودسلوټنو څخه زيات ټپيان شول .

دسرمقالي پاتي برخه

دملونه ده ،اودايرته له دي چي رباني بي دخپلي واکمني داوږدېدو په خاطر ديوي حربي په حيث راوړاندي کوي ، بله هيڅ معنانه لري، ټول بنه پوهيږي چي رباني اوانديوالان يي دڅه په خاطر زوږي سنلري بولي اودملت سترگوته خاوري ورشيندي . که رباني رښتيا هم دملت نمانده شوري غوښتي نوپه داتيرو اتلسو مياشتوکي يي ولي ددي اړوند ولي بوگام هم نه دي پورته کړي . چي اوس يي دچاخبره ترووستي لکي رانيسي ؟

دريمه طرحه چي که څه هم دتجربويه لحاظ داهم ترڅه ده خوپه عملي ډول آسانه او ددرد دوايکي موندل کيږي اوداکثروجهادي مشرانوغوښتنه هم ده پدي شکل چي رباني به دحضرت صاحب په شان واك قيادي شوري ته سپاري، بيا به جهادي مشران دټولو دخوښي يوموقت حکومت جوړوي اوبيابه کيږي لاري به پرانستل کيږي . بيا به داموقت حکومت په معينه موده کي انتخابات کړي ترڅويونماينده حکومت منځته راشي که واقعيتونه او داسلام آبادموافقتنامي ختميدل په نظرکي ونيول شي نوترټولو عملي ،ښتنه اوآسانه لارهمداده .

جهادي مشران کولاي شي په دوو دريو ورځوکي په يوه موقته اداره توافق وکړي اوجوخت وورسره اوروند وشي ، لاري پرانستل شي اودا معماچي دملت په ذهن کي يي ځاي نيولي ختمه کړي شي .

همدارنګ جهادي مشران کولاي شي دموقت حکومت ترجوړيدو وروسته ملي اردودجوړيدو، دکابل دخلع سلاح کيدو، دمهاجرينو دبيرته ستنيدو داننخاباتولپاره دلاري دهواريدلو اونوروچارو په ارتباط دموقتي اداري سره په اخلاص مرسته وکړي، پردي شکل هم ستونزي حل کيداي شي اوهم به زموږ دجهادآبرواوعزت په ځاي پاتي شي .

اعلان

دالبدرکورس ټولو علاقمندانوته خبرورکول کيږي چي دساينسي علومو(فزيك - رياضي - کيميا) د(۷-۱۲) ټولگيوپوري دپوهنتون دکانکور لپاره دآمادگي کورس، اودانگليسي (دبگنيرڅخه ترددهمه ادوانس پوري) خپلي لمرني دوري ته شاگردان مني اودنومورو مضامينو تدريس دافغانستان داسلامي پوهنتون داستاداتولخوا کيږي .

آدرس : شمشتو - نصرت مينه - دالف ساحه - ٦ لمبرکوټه

دالفتح دجومات ترڅنگ دعبدالله بن عباس دمدرسي سابقه تعمير

اداره :

دانجنيري دپوهنځي تدريسي مديريت

ثبت نام : دجوزا د(۲٤) تاريخ څخه شروع کيږي (۴۰-۴)

مناقصه کنندگان مراجعه نمايد

محترم عبدالودود ولد عبدالمجيد رئيس عدالودود لمنبد مقدار (۵۰۰۰۰۰) کيلوچوب خشك بلوط راقي کيلويه مبلغ (۱۸۰) افغاني ومقدار (۱۰۰۰۰۰) کيلو چوب خشك ارچل راقي کيلو مبلغ (۱۵۰) افغاني باقوماندانی امنيهٔ ولايت ننگرها براي يك سال قرارداد مينمايد اشخاص وموسساتي که کمترازنرخ فوق جنس ذکرشده رارسانيده ميتوانند درخواست هاي خويش رابمديريت لوژستيك قوماندانی امنيه بسپارند وخودشان بتاريخ (٤) برج سرطان سال جاري غرض داوطلبي مراجعه نمايند شرطنامه راميتوانند ملاحظه کنندتامينات (۲) فيصد نقداً اخذ ميگردد.

تاجکستاني مسلمانو مبارزينو دري کسه روسي عسکر ووژل

دوشنبه - دغبرگولي ۳۰ :

دتاجکستان پايتخت ښارته نږدي مسلمانو مجاهدينو ديوي حملي په ترځ کي دري تنه روسي عسکروژلي دي .

دتاجکستان مامورين وايي چي داپيښه ددغه هيواد په لويديځ دفيض اباد په ولسوالي کي ترسره شوي .

په ريپوټ کي ويل شوي چي په دغه حمله کي ۱۲ تنه پوليسان هم ټپيان شوي په تاجکستان کي مسلمان مجاهدين دروسي په عسکروهروخت حملي کوي تيره اونۍ کله چي دتاجکستان ددفاع دوزارت مرستيال دپنځوعسکرو سره په خپل موټرکي ناست وو چي ديوي حملي په ترځ کي ووژل شو.

دپښواني وارسا بلاك په هيوادونو كي دتوبركلوز ناروغي خوره شوي ده

غبرگولي :

دنړي دروغتيا موسسه وايي چي دپښواني شوروي بلاك زيات ملکونه دتوبرکلوزدمرض له خطرسره مخامخ دي دنړي دروغتيا موسسه وايي چي په تيرو پنځوکلونوکي دشرقي اروپا څه دپاسه دوه مليونه خلك په دي مرض اخته شوي چي زياترو ئي خپل ځانونه له لاسه ورکړل

دنړيوال روغتيايي موسسي رئيس وايي چي ددي مرض دزياتيدوعلت هغه اجتماعي حالت دي چي ورځ په ورځ دخرابيدوپه حال کي دي .

دیمن کورني جگړه نوره هم توده شوه

عدن - دغبرگولي ۳۰ :

ويل کيږي وروسته له هغه چي دملگروملتوعسکروونه کړاي شول چي ديمن په جنگ کي دشاملوقواوو مشران بواوويند ته سره کينوي دهغه هيواد کورني جگړه تنده شويده .

دروېترخبري آژانس دجنوبي يمن عدن ښار دمامورينوله قوله وايي چي اوه اونۍ دمخه دغه جنگ پيل شويدي اودشمال قواوو اوس بوځل بيا ديري سختي دزي پيل کړي دي دجنوب مقامات وايي پرون شپه په عدن کي لرترلږه ۱۸ کسه ووژل شول اودپنځشنبي راهيسي دمړوشمير سلوټنوته رسيدلي دي .

له بلي خوا دملگروملتو استازي په قاهره کي دعربي اتحاديي دعمومي منشي عصمت عبدالمجيد سره کتلي دي .

په ملگروملتوكي دامريكا سفيردروسيي له سفير سره وكتل

دغبرگولي ۳۱ :

په ملگروملتوکي دامريکا سفيري (مايکل البرايت) دخپل روسي هم مسلك سره کتلي اودشمالي کوريا پرخلاف دبنديزونو دپريکړي په باره کي وروسره غږيدلي ده .

دسپيني ماڼي نطاق په دي اړوند وويل چي دبنديزونو په هکله دروسيي دسفير غرگندوني مثبتي وي .

امريکادوخت څخه په استفادي غواړي په شمالي کوريا باندي دبنديزونوپريکړه تصويب کړي سره له دي چي شمالي کوريا ديته حاضر شوي چي خپل اتومي پروگرام پرڅاوکړي .

يلتسين سرحدات روسيه با استونيارا مشخص ساخت

مسکو - اول سرطان .

بوريس يلتسن رئيس جمهور روسيه فرماني صادرکرده که بصورت يك جانبه سرحد روسيه بااستونيارا مشخص ميسازد.

به گزارش ايتارتاس يلتسن گفت سرحدمشترك دوکشوربايد همان سرحدي باشد که روسيه استقلال استونيا رادرسال ۱۹۹۱ برسميت شناخت .

يلتسن افزود : اين اقدام براي حفظ منافع روسيه ضروري ميباشد.

استونيا به روسيه فشار ميآورد تاسرحدي راکه قبل از الحاق آنکشوربا اتحاد شوروي درسال ۱۹٤۰ به استونيا متعلق بود مسترد نمايد.

ميزان جنايات درروسيه روبه افزايش وگسترش است

مسکو- ۲۹ جوزا :

افزايش جنايات درروسيه باعث عکس العمل هاي شديددرسطح بالاي دولت شده است . برخي ازمنتقدين ميگويندبخاطرمبارزه باجنايت، حقوق مدني محدودخواهدشد.يکي ازمامورين عاليرتبه روسيه ميگويد درحاليکه مجادله عليه مجرمين شدت ميگيرد زياده روي هاي پوليس هم جزآن است.آژانس انترفاکس ازقول سرگيبويچ تيباشين آمرخدمات ضدجاسوسي دولتي ميگويد: احتمال داردکه تدابيرضدجنايت بيرحمانه باشد. اين هشدارتيباشين يك روزبعداز آن بگوش رسيدکه بوريس يلتسن رئيس جمهورروسيه براي پوليس صلاحيت هاي بيشتري بخاطرمقابله با افزايش جنايت داد.

پوليس صلاحيت يافته است افرادمورد اشتباه را مدت يکماه بدون الزام توقيف نمايد. آنهاهمچنان حق دارند افراد مورداشتباه را بدون دستورمقامات بالا تلاشي نموده سپرده هاي بانکي وساير مسايل مالي شان را بازرسي نمايند.

افزايش جنايت تمام مراجع اجرايي را درين کشور به عکس العمل شديد واداشته است

قواي مجريه روسيه روزشنبه گذشته آغازيك عمليات چندملياردداري را بخاطر مبارزه عليه جنايتکاران حرفوي اعلام کردکه بنام مافيايادميشود.جنايات مافياکه روز تاروز افزايش ميابديلتسن را وادارساخت تابه پوليس اختيارات بيشتردهد . سروي هاويرروسي هاي که درزمينه امور اجتماعي انجام شده نشان ميدهدکه اکثريت مردم ، جنايات وجنايتکاران را حادترين مشکل روسيه ميدانند حتي درحاليکه تدابيرجديددرزمينه اعلام مي شدتنهادرمسکوچندين موردقتل وتيراندازي صورت گرفت .

برخي ازرهبران سياسي گرچه قبول مي

ص(٤)

امريكا په مشروط ډول له شمالي كوريا سره خبري كول غواړي

واشنگتن - دغبرگولي ۳۰ :

دامريکا جمهوررئيس کلنتن وايي: کله چي دشمالي کوريا په اتومي دستگاه پوري مربوط بحران حل شي،دا په يوه تلويزيوني مرکه کي وويل : که شمالي کوريا دخپل اتومي پروگرام په باب خپله وعده پوره کړي اودجنوبي کوريا سره خبري پيل کړي نوامريکابه هم دشمالي کوريا سره خبري شروع کړي .

پوليس فلسطيني (۱۰) مبارزسازمان فتح رابازداشت كرد

غزه - اول سرطان

درباريکهٔ غزه پوليس فلسطيني ده تن ازمبارزان سازمان آزادي بخش فلسطين رابه جرم مسدودکردن راهي که به يك آبادي يهودي نشين منتهي ميگرديد ، دستگيرنمود.

به گزارش فرانسه رئيس بخش الفتح درغزه نيز درميان بازداشت شدگان است. ازآوان آغاز خودمختاري فلسطيني ها در غزه اين اولين باريست که يك مقام ارشد مبارزين فلسطيني بازداشت مي شود.

په ايران كي ديوي سختي زلزلي له امله دوه كسه مړه او (۵۰) ټپيان شول

دغبرگولي ۳۰ :

دايران په جنوبي سيمه کي ديوي سختي زلزلي له امله دوه تنه مړه او ۵۰ کسه ټپيان شول .

دايران خبري آژانس ارنا وايي چي ٦.۱ ريکټره زلزلي دشيراز دښاراوچاپيريال سيمي لرزولي اوتاوانونه ئي ور اړولي دي په خبرکي ويل کيږي چي په دي سيمه کي سږکال وخت ناوخته زلزلي کيږي .

اعلان لادركي

شيرزمان ولد گل محمد متعلم صنف پنجم دارالحفاظ مسکونهٔ ولسوالي بگرام ولايت پروان فعلاً باشندهٔ نصرت مينه (وچ نهر) از روز جمعه تاريخ ۱۳ جوزاي سالجاري تاکنون لادرك ميباشد.

افراديکه او راديده وياازوي اطلاعي دارند لطفاً باتليفون نمبر ۳۰۲۲٤ به مديريت شاروالي شعبهٔ برق کمپ نصرت مينه خبردهند.

په نيول شوي كشمير كي دمسلمانو مبارزينو يومشر قاضي نثار خاوروته وسپارل شو

سرينگر - دغبرگولي ۳۰ :

نيول شوي کشميرکي دمجاهدينو يومشرقاضي نثار چي ورمه ورځ دهندي برغلگرو شهيدکړي و دهغه جنازه تيره ورځ خاوروته وسپارل شوه .

په دغه مشرپاندي دسرينگرښار جنوب کي ٤۵ کيلومتره ليري دهغه په پلارني ښارانتنت ناگ کي دزي وشوي دنوموړي دجنازي په مراسموکي دکشميري مبارزو ډلو مشرانوهم برخه اخستي وه په زرگونو کشميري مسلمانانو دهغه مړي دهغه کورته ورساوه مجاهدنثار دهندي ځواکونو په ضدکلکه مبارزه کوله اوپه دي ترځ کي دهند په يوي بنديخانه کي دري کاله بندهم تيرکړي و .

براي عملي كردن ...

رهبر محاذ ملي گفت استاد رباني ميخواهد بخاطر تمديد قدرتش شوراي موسوم به حل وعقد رابهانه قراردهد و ازکناره گيري ازقدرت خودداري کند که اين کار نه تنها مشکل کشور را حل نميکند بلکه مشکلات ديگري رابه آن ميافزايد.

پيرصاحب افزود :

موافقتنامه جلال آباد که برهان الدين رباني رابحيث رئيس جمهوروحکمتيار را بحيث صدراعظم وهمچنين وزرارا راتعين کرده بود حالا ميعاد آن به پايان رسيده رهبران بايد باوديگرد دور هم جمع شوند ويك حکومت ديگر را تشکيل کند.

باز هم بايد رهبران که تصميم بگيرند که چه کساني رئيس دولت وصدراعظم باشند ، يعني تمام حکومت تشکيل شود.

سيد احمد گيلاني درجواب اين سوال که اگر شوراي قيادي دايرنشود چي موقفي را اتخاذ خواهيدکرد گفت که وي درين مسئله اگرمکري رااي پذيره.

اوازرباني وحکمتيار بحيث مسؤلين يك دولت خواستار است که به فکر ملت ووطن باشند. سيد احمد گيلاني گفت من ميگويم که آنها بخاطر خيروبقاي افغانستان بايد فيصله هايي راکه صورتگرفته رعايت کنند.

پيراحمد گيلاني مي افزايد که وي در هرموقع وحتي درحالت جنگ به اداره اکثريت ملت احترام دارد وتسليم آن مي باشد.

پير گيلاني درمورد طرح صلحي که بنام طرح (۱٤) ولايت غربي و جنوب غربي افغانستان اعلام شده گفت که شرط اول عمل کردن هرپلان آنست که رهبران جمع شوند و نظربدهند اگر رهبران اين پلان را براي حل بحران افغانستان مفيد بدانند درآنصورت مشکلي درميان نخواهد بود.

محترم گيلاني گفت که اوهيچ طرح را چشم بسته نه قبول مي کند ونه کاملاً ردمي نمايد. زيرا که امکان دارد هرطرح داراي نکات خوب بوده ويادارای چنان موادي باشدکه بايدتغير داده شود.

په نړدي ورځوكي دجهادي ...

ايزي لاري دخپلولو څخه تيښته وکړي .

استادرباني ته کړه پداسي حال کي چي دجهادي تنظيمونو زياتومشرانوهمدارنگه زياتوجهادي قوماندانانو داسمعيل خان په شمول دااعلان کړي چي استادرباني دجون د۲۸ څخه وروسته خپل رسمي حيثيت نشي ساتلي نوپه دي اساس موږغواړوچي استادرباني دپوهاند مجددي صاحب په قدم پل واخلي اوخپل اقتداردووکالو تاکاموتجربونه وروسته يوځل بيا قيادي شوراته وسپاري ،په دي اساس موږکوښښ کووچي دامسئله له سوله ايزي لاري حل وفصل شي، که چيري استادرباني په اقتدارکي دپاتي کيدوڅخه وکړي اوغواړي چي دبرچي په زور پرولس ځان وتپي نوداطبعاً چي له ولس سره ستره جفاده اودجنگ اعلان به وي .

پوښتنه : دغه مقدماتي خبري چي دهرات دغونډي څخه بايدمخکي شوي واي نوداونشوي تودهرات غونډه به څنگه شي ؟

ځواب : فکرکوم چي اوس هغه وخت تللي چي دهرات غونډه کومه نتيجه ورکړي ،په دي وختونوکي داسي هڅه روانه ده اودافغانستان صدراعظم محترم حکمتيارهم دټولو جهادي تنظيمونو له مشرانوڅخه غوښتي چي دهيواد يومصئون ځاي کي سره راټول اوداستاذرباني څخه داقتداردانتقال په خاطر ديونوي موقت حکومت په جوړښت کي تفاهم ته سره ورسيږي . زموږ په دي بلنه کي استاذرباني هم دجمعيت دمستعفي اميرپه حيث کولاي شي گډون وکړي ، ددي غونډي دجوړښت په اړوند دمشرانوترمينځ تفاهم روان دي اوممکن ديرژر په دي لنډه موده کي داخبري په يومصئون ځاي کي وشي په دي اساس دهرات دغونډي وخت اويادسيمينارونوخت اوس نه دي بلکه په عاجله توگه دشپږوورځوپه موده کي دجهادي مشرانوترمينځ تفاهم ته ضرورت دي چي ديونوي موقت حکومت په هکله تصميم ونيسي .

دهيتي امنيتي ځواكونو دري مشكوك كسان ونيول

دغبرگولي ۳۱:

دهيتي مقاماتو هغه دري تنه چي په امريکاکي ئې دپناه اخستولوغوښتنه کړي وه نيولي .

دغه دري تنه هغه وخت دامريکا څخه هيتي ته واستول شول چي ددوي پناهندگي په امريکاکي ونه منل شوه .

دريوټ په اساس دغه دري کسه هغه وخت دهيتي امنيتي ځواکونو په پايتخت کي ونيول چي دامريکا ساحلي ساتونکو دوي دبيړي څخه په هغه ځاي کي کوزکړل .

منطقهٔ (وخشي) ..

درگزارش آمده است درين عمليات پيروزمندانه دوتن ازتفنگداران ادارهٔ ائتلافي کشته ۱۵۰ تن اسيروشماري مجروح گرديد.

مقداركافي اسلحه ومهمات نظامي بدست مجاهدين افتاد .

برپايه اين گزارش اکنون منطقه يادشده توسط مجاهدين اداره مي شود ومردم محل احساس آزادي وآرامش مينمايند .

يلتسين وكلنتن...

ديدار درجلسه سران هفت کشور عمدهٔ صنعتي جهان که در ايتاليا برگزارميگردد،تعين شود

همچنان چرنوميردين صدراعظم روسيه روز سه شنبه وارد امريکا شد وي درمورد استحکام روابط ميان طرفين بامقامات امريکايي گفتگو مينمايد.

شهادت

بيانگرعقايدوآرمان هاي حزب اسلامي افغانستان

صاحب امتياز: حزب اسلامي افغانستان

مؤسس : انجنيرحکمتيار

ناشر : رياست ارشادوفرهنگ

تحت نظرهيئت تحرير

پست بکس : ۱۰۳٦ يونيورستي تاون پشاور

آدرس : جلال آباد چکتوري

حساب بانکي: ۸۵۲٦٤ دافغانستان بانك

تيلفون : ۲۹۲٦